# د یوحنا رسول رویا

## پېژندګلو

یوحنا رسول د حضرت عیسیٰ په حقله رویا لیکلې ده، په هغه وخت کښې هغه د پتموس په جزیره کښې چې د نننۍ تُرکی سره نزدې ده. د رویا کِتاب هغه روحانی نالیدونکی جنګ نه پرده اخوا کوی چې د خُدائ پاک او د شیطان په مینځ کښې روان دے. یعنې د دې کِتاب بنیادی مقصد دا دے چې مونږ ته د حضرت عیسیٰ مسیح هغه فتح راوښائی چې په شیطان یې د خپل مرګ په وسیله حاصله کړې ده، او خلقو ته د ګمراهۍ نه خلاصون ورکوی چې د خُدائ پاک په بادشاهۍ کښې مقدسین شی، او په خوشحالۍ سره د خُدائ پاک په حضور کښې خدمت وکړی. د دُنیا تاریخ او د دې تباهی د کامیاب ګډوری یعنې د حضرت عیسیٰ د قابو لاندې ده.
یوحنا رسول په خپله رویا کښې اووۀ جماعتونو ته وینا کوی. د رویا د کِتاب سرچینه حضرت عیسیٰ مسیح په خپله دے او یوحنا رسول د هغۀ پېغام اووۀ کلیساګانو ته په دې خط کښې بیانوی، او دا خط د سزا، تنقید او سکون نه شروع شوے دے. او بیا د رویا یوه اوږده سلسله شروع کیږی چې د ګناهګارانو د آخری سزا په باره کښې په خاص الفاظو او ژبې سره تشریح کیږی او بیانیږی. د ایماندارانو جماعت په هغه وخت کښې د یو غټ او لوئ تکلیف لاندې وو، خو په آخر کښې دا کِتاب د بادشاهانو د بادشاه او د مالِکانو د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مالِک کامیابی بیانوی، څوک چې به د انسان نافرمانئ ته د
آخر ټکی ږدی او نوے آسمان او د نوے دُنیا پېژندنه په
یوویشتم باب کښې بیانوی، چرته به چې خُدائ پاک په خپله
د همېشه دپاره بادشاهت کوی. د حفظ کولو دپاره ۹:۷ آیت
”ما د خلقو لویه ګڼه ولیده چې بېشمېره وه، دا د ټولو
قومونو، ټولو خیلونو او د مختلفو ژبو د ویوونکو خلقو ګڼه د
تخت او د ګډُوری د وړاندې ولاړه وه.“

## مقدمه

۱ ۱ دا هغه رویا ده چې خُدائ پاک عیسیٰ مسیح ته
ورکړه چې هغه خپلو غلامانو ته هغه خبرې وښائی چې کومې
به زر تر زره پېښېږی. هغهٔ خپله فرښته خپل غلام یوحنا ته په
رالیږلو دا خبرې هغهٔ ته وښودلې، ۲ چا چې د خُدائ پاک
د کلام او د عیسیٰ مسیح او د هغهٔ ټول هر څهٔ چې هغه ولیدل
ګواهی ورکړه. ۳ بختور دے هغه څوک چې دا پېشګوئی
نورو خلقو ته لولی او بختور دی هغه خلق چې دا کلام اوری
او چې څهٔ په کښې لیکلی دی په هغې عمل کوی، ځکه چې
وخت رانزدې دے. ۴ دا خط د یوحنا د طرف نه د آسیه
صوبې د اوو جماعتونو په نوم، په تاسو دې فضل او سلامتی
وی، د خُدائ پاک د طرفه چې شته، چې وو او چې
راتلونکے دے، او د هغه اوو روحونو د طرفه چې د هغهٔ د
تخت د وړاندې دی، ۵ او د عیسیٰ مسیح د طرف نه چې
وفادار ګواه دے او چې د مړو نه اول ژوندے پاڅېدو او د
زمکې د بادشاهانو سردار دے. هغه مونږ سره مینه کوی او

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مونږ يې د خپلې وينې په قربانۍ د ګناهونو نه آزاد کړُو. ۶
هغهٔ مونږ د خپل پلار خُدائ پاک د بادشاهت د خدمت دپاره
اِمامان جوړ کړُو. د هغهٔ جلالی قُدرت دې تل تر تله قائم وی.
آمين. ۷ ګورئ، هغه په وريځو کښې راروان دے، هره
سترګه به هغه وينی، او هغوئ هم چا چې هغه ژوبل کړے
وو، او د دُنيا ټول خلق به په هغهٔ وير کوی. بېشکه دا به دغه
شان وی. آمين. ۸ مالِک خُدائ پاک فرمائی چې، "اول او
آخر زهٔ يم، چې شته، چې وو، چې راتلونکے دے يعنې قادر
مطلق خُدائ."

## د حضرت عيسیٰ مسيح په باب کښې رويا

۹ زهٔ ستاسو ورور يوحنا، په تنګسيا، په بادشاهۍ او په
صبر کښې تاسو سره خپل عيسیٰ کښې شريک يم. زهٔ د
خُدائ پاک د کلام او د عيسیٰ په حقله د ګواهۍ ورکولو په
وجه پتموس نومې جزيره ته جلاوطن کړے شوم. ۱۰ او د
مالِک په ورځ چې روحُ القُدس په ما غلبه وکړه، نو ما خپل
شا ته يو اوچت آواز واوريدو چې د بيګل په شان وو. ۱۱
هغه آواز ما ته ووئيل چې، "څهٔ چې تهٔ وينې هغه په يو کِتاب
کښې وليکه او اوو واړو جماعتونو ته يې ولېږه، يعنې
اِفِسوس، سمرنه، پرګمون، تواتيره، سرديس، فيلدِلفيه، او
لوديکيه ته." ۱۲ زهٔ ورپسې راتاو شوم چې دا څوک دے
چې ما سره خبرې کوی، او چې زهٔ راتاو شوم نو ما د سرو
زرو اووهٔ ډيوټونه وليدل. ۱۳ او د دې ډيوټونو په مينځ کښې
ما يو کس د اِبن آدم په شان وليدلو چې تر پښو پورې يې
چُوغه اغوستې وه او په سينه يې د سرو زرو سينه بند تاو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کړے وو. (۱۴) د هغهٔ د سر وېښتهٔ لکه د سپينې وړۍ او يا
واورې په شان سپين وُو او د هغهٔ سترګې د اور د شغلو په
شان وې. (۱۵) او د هغهٔ پښې د زېړو په شان ځلېدلې ځنګه
چې په بټۍ کښې سرې شوې وى او د هغهٔ آواز لکه د تېزو
اوبو په شان وو. (۱۶) او هغهٔ په ښى لاس کښې هغه اووهٔ
ستورى نيولى وُو او د هغهٔ د خولې نه يوه تېزه دوه مخيزه
تُوره راوتلې وه او د هغهٔ مخ د تېز نمر په شان ځلېدو. (۱۷)
کله چې هغه ما وليدو نو زهٔ لکه د مړى د هغهٔ په پښو کښې
پرېوتلم، خو هغهٔ خپل ښے لاس په ما کېښودو او وې
فرمائيل، ”يرېږه مه، اول او آخر زهٔ يم، (۱۸) او ژوندے يم، زهٔ
مړ وم خو اوس تل تر تله ژوندے يم او د مرګ او د عالمِ
ارواح کُنجيانې ما سره دى. (۱۹) د دې دپاره دا هر څهٔ وليکه
څهٔ چې تهٔ وينې، څهٔ چې اوس دى او څهٔ چې وروستو به
وشى. (۲۰) تا چې زما په ښى لاس کښې اووهٔ ستورى ليدلى
دى او هغه اووهٔ د سرو زرو ډيوټونه، د هغې راز دا دے چې
اووهٔ ستورى د اوو جماعتونو فرښتې دى او دا اووهٔ ډيوټونه
اووهٔ جماعتونه دى.“

## د اِفِسوس جماعت دپاره پېغام

۲ (۱) ”د اِفِسوس د جماعت فرښتې ته دا پېغام وليکه، دا د
هغهٔ پېغام دے چا چې اووهٔ ستورى په خپل ښى لاس کښې
نيولى دى څوک چې د سرو زرو د اوو ډيوټونو په مينځ کښې
ګرځى. (۲) زهٔ ستا د ټولو عملونو نه خبر يم. او ما ته ستا د
خوارۍ او صبر هم پته ده. او ما ته د دې هم پته ده چې تهٔ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بدکاره خلق نۀ شې زغملے، تا هغوئ وآزمائيل څوک چې
ځان ته رسولان وائى خو نۀ دى، او دروغژن دې ثابت کړل.
۳ ما ته دا هم پته ده چې زما د نوم د خاطره تا دا په صبر
سره وزغمل او تۀ ستومانه نۀ شوې. ۴ خو زۀ ستا خلاف
دا شکايت کوم چې تا هغه وړومبۍ مينه پرېښې ده. ۵ خو
هغه رایاد کړه چې تۀ د څومره اوچت مقام نه پرېوتلې، خو
اوس توبه وباسه او هغه کار کوه لکه چې مخکښې دې کړے
وو. کۀ تۀ توبه ونۀ باسې نو زۀ به راشم او ستا ډيوټ به د
خپل ځائ نه لرې کړم. ۶ خو بيا هم يوه خبره ستا په حق
کښې شته چې تۀ د نيکليانو د کارونو نه نفرت کوې لکه چې
زۀ يې ترې کوم. ۷ د چا چې غوږونه وى، هغه دې واورى
چې روحُ القُدس جماعتونو ته څۀ فرمائى. هر هغه څوک چې
بريالے شى نو زۀ به د ژوندون د ونې نه د مېوې د خوړلو
اختيار ورکړم چې د خُدائ پاک په جنت کښې ولاړه ده.

## د سمرنه جماعت دپاره پيغام

۸ د سمرنه د جماعت فرښتې ته دا پيغام وليکه چې، څوک
چې اول او آخر دے، او څوک چې مړ شو او بيا ژوندے
شو، هغه داسې فرمائى، ۹ ما ته ستا د تنګسيا او غربت پته
ده، خو بيا هم تۀ مالدار يې، زۀ د هغه خلقو د کُفر وئيلو نه هم
خبر يم چې ځان ته يهوديان وائى خو دى نۀ. دا د شيطان
جماعت دے. ۱۰ د راتلونکو زحمتونو نه مۀ يرېږه. خبردار
شئ اِبليس به تاسو نه څينې قېدخانو ته واچوى نو چې تاسو
وآزمائيلے شئ او تر لسو ورځو پورې به په تاسو زحمتونه
وى. خو تر مرګه پورې وفادار اوسئ او زۀ به د ژوندون تاج

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

در په سر کړم. ۱۱ د چا چې غوږونه وی، هغه دې واورى،
چې روحُ القُدس جماعتونو ته څۀ فرمائى. هر هغه څوک چې
کامياب شی نو دوېم مرګ به ورته هيڅ نقصان ونۀ رسوی.

## د پرګمون جماعت دپاره پېغام

۱۲ د پرګمون د جماعت فرښتې ته دا پېغام وليکه، هغه
څوک چې چا سره تېرۀ دوه مخيزه تُوره ده هغه داسې
فرمائى، ۱۳ ما ته پته ده چې تۀ چرته اوسې، هلته چرته چې
د شېطان تخت دے او تۀ زما په نوم مضبوط ولاړ يې. تا په
هغه وخت هم د خپل ايمان نه اِنکار ونۀ کړو کله چې زما
وفادار ګواه انتيپاس ستاسو په هغه ښار کښې ووژلے شو
چرته چې شېطان اوسېږی. ۱۴ خو زۀ ستا خلاف د يو څو
خبرو شکايت کوم چې په تاسو کښې هلته څۀ کسان شته
چې د بلعام د تعليم پيروی کوی، چا چې بلق ته تعليم ورکړو
چې بنی اِسرائيل ګډوډ کړی چې هغوئ بُتانو ته شوې قربانۍ
وخوری او حرامکاری دې وکړی. ۱۵ هم دغه شان په تاسو
کښې څينې کسان شته دے چې د نيکليانو د تعليم پيروی
کوی. ۱۶ نو توبه وياسه، کۀ نه نو زۀ به زر راشم او په هغه
تُوره به د هغوئ سره جنګ وکړم کومه چې زما د خولې نه
راوځی. ۱۷ د چا چې غوږونه وی، هغه دې واورى چې روحُ
القُدس جماعتونو ته څۀ فرمائى. هر هغه څوک چې کامياب
شی نو زۀ به هغوئ ته پټ شوی من او يو سپين کاڼے ورکړم
او په هغه سپين کاڼی به يو نوے نوم ليکلے شوے وی چې
صرف هغه چا ته يې پته ده چا ته چې دا کاڼے ورکړے
شوے وی.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# د تواتيره جماعت دپاره پېغام

۱۸ د تواتيره د جماعت فرښتې ته دا پېغام وليکه چې د
خُدائ پاک زوئ داسې فرمائى د چا سترګې چې د اور د
شغلو په شان دى او چې پښې يې د زېړو په شان ځليږى، ۱۹
ما ته ستا د ټولو عملونو، ستا د مينې، ايماندارۍ، خدمت او
صبر پته ده. ما ته پته ده چې ستا اوسنى عملونه ستا د
مخکښينو عملونو نه بهتر دى. ۲۰ خو زهٔ ستا خلاف دا
شکايت کوم چې تهٔ هغه ايزبلى نومې ښځه برداشت کوې چې
ځان ته پېغمبره وائى او زما خادِمانو ته د حرامکارۍ او د
بُتانو د قربانۍ د خوړلو ترغيب ورکوى. ۲۱ ما هغې ته د
توبې ويستلو موقع ورکړه خو هغه د خپلې حرامکارۍ نه توبه
نهٔ وياسى. ۲۲ نو زهٔ به هغه د کټ په رنځ وغورزوم او هغوئ
چې ورسره يې زنا کړې ده، هغوئ به په ډېره سخته تنګسيا
کښې راګير کړم ترڅو چې هغوئ د هغې د کړو نه توبه ونهٔ
باسى. ۲۳ او د هغې بچى به په زمکه ووژنم. په دې به ټول
جماعتونه دا سبق حاصل کړى چې زهٔ د بنى آدمو زړُونه او
خيالات آزمائيم او دا چې زهٔ به تاسو ټولو ته د خپل عمل په
مطابق اجر درکړم. ۲۴ خو اے د تواتيره نورو اوسېدونکو
چې دا تعليم نهٔ منئ او د هغې نه ناخبره يئ کومې ته چې
هغوئ د شېطان پټ او ژور چال وائى، زهٔ تاسو ته وايم چې
زهٔ به په تاسو نور بار وانهٔ چوم. ۲۵ بس په هغه څهٔ تر هغې
ټينګ پاتې شئ ترڅو چې زهٔ درنهٔ شم. ۲۶ هر هغه څوک چې
کامياب شى او هغه چې زما د وينا په مطابق تر آخره عمل
کوى نو زهٔ به ورله په قومونو اختيار ورکوم. ۲۷ هغه به پرې
زورَور حکومت کوى او د خاورو د لوښو په شان به يې ټوټې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ټوټې کړی. هغه اختيار ما ته د خپل پلار نه راکړې شوے
دے. ٢٨ او زۀ به هغۀ له د سبا ستورے ورکړم. ٢٩ د چا
چې غوږونه وی، هغه دې واورى چې روحُ القُدس جماعتونو
ته څۀ فرمائى.“

## د سرديس جماعت دپاره پېغام

٣ ١ ”د سرديس د جماعت فرښتې ته دا پېغام وليکه، چا
سره چې د خُدائ پاک اووۀ روحونه او اووۀ ستورى دی هغه
دا وائى چې زۀ ستا په ټول عمل خبر يم چې تۀ تش په نوم
ژوندے يې خو يې مړ. ٢ بېدار شه او څۀ چې پاتې دی، او
مړ کېدو ته نزدې دی هغه مضبوط کړه، ستا کارونه هم ما د
خپل خُدائ پاک په نظر کښې پوره ونۀ ليدل. ٣ کوم تعليم
چې تا ته درکړې شوے دے او تا اورېدلے دے، هغه ياد
ساته او عمل پرې کوه او توبه وباسه. کۀ تۀ بېدار نۀ شې نو
زۀ به د غل په شان درشم او تا ته به زما د راتلو د وخت پته
ونۀ لګى. ٤ خو بيا هم په سرديس کښې تاسو سره څېنې
داسې کسان شته چې هغوئ خپلې جامې پليتې کړې نۀ دی،
هغوئ به ما سره په سپينو جامو کښې ګرځى ځکه چې هغوئ
د دې لائق دی. ٥ هر هغه څوک چې کامياب شی نو هغوئ
ته به دغسې سپينې جامې وراغوستلے شی او د هغوئ نوم به
زۀ هيڅکله هم د ژوندون د کِتاب نه ونۀ باسم او زۀ به د خپل
پلار او د هغۀ د فرښتو د وړاندې دا اعلان وکړم چې هغوئ
زما خپل دی. ٦ د چا چې غوږونه وی، هغوئ دې واورى
چې روحُ القُدس جماعتونو ته څۀ فرمائى.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د فیلدِلفیه د جماعت دپاره پیغام

۷ د فیلدِلفیه د جماعت فرښتې ته دا پیغام ولیکه، هغه
څوک چې قُدوس او رښتینے دے داسې فرمائی چې ورسره
د داؤد چابی ده او هغه چې دروازه کولاو کړی نو څوک به
یې هم بنده نۀ کړی او چې هغه دروازه بنده کړی نو څوک به
یې هم کولاو نۀ کړی، هغه داسې وائی چې ۸ زۀ ستا د ټولو
عملونو نه خبر یم. وګوره، ما تا ته ستا په وړاندې یوه دروازه
کولاو کړې ده چې هیڅوک یې بندولے نۀ شی. زۀ پوهېږم چې
ستا طاقت کم دے خو بیا هم تا زما کلام منلے دے او زما
د نوم نه منکر شوے نۀ یې. ۹ ګوره، د شیطان د قبیلې نه
به هغوئ راولم چې ځان ته یهودیان وائی خو نۀ دی بلکې
دروغژن دی، هغوئ به درشی او ستا په پښو به پرېوځی او
هغوئ به په دې پوهه شی چې تۀ زما محبوب یې. ۱۰ ځکه
چې تا زما کلام په صبر سره برداشت کړے دے او مضبوط
پرې ولاړ یې، زۀ به هم تا د هغه آزمېښت د وخت نه چې د
ټولې دُنیا په خلقو راتلونکے دے، بچ کړم. ۱۱ زۀ زر درځم
او څۀ چې درسره دی په هغې ټینګ پاتې شه چې څوک دې
هم د خپل تاج نه محرومه نۀ کړی. ۱۲ هر هغه څوک چې
کامیاب شی نو هغوئ به زما د خُدائ د کور ستن شی، او
هغوئ به هر وخت په هغې کښې اوسیږی. زۀ به په هغوئ د
خپل خُدائ نوم ولیکم او هغوئ به زما د خُدائ پاک د ښار
اوسېدونکی شی یعنې د نوې یروشلم کوم چې د آسمان نه
ښکته راځی او زۀ به پرې خپل نوے نوم ولیکم. ۱۳ د چا
چې غوږونه وی، هغه دې واوری چې روحُ القُدس جماعتونو
ته څۀ فرمائی.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# د لوديکيه جماعت دپاره پيغام

١٤ د لوديکيه د جماعت فرښتې ته دا پيغام وليکه، دا پيغام د
هغه چا د طرفه دے چې آمين دے، څوک چې وفادار
رښتينے ګواه دے او د خُدائ پاک د نوی خلقت شروع ده.
هغه فرمائی چې ١٥ ما ته ستا د ټولو عملونو پته ده، تهٔ خو
نهٔ يخ يې او نهٔ ګرم. کاش چې تهٔ يا خو يخ وے يا ګرم. ١٦
نو چونکې نهٔ خو تهٔ ګرم يې او نهٔ يخ، بلکې تړم يې، زهٔ به تا د
خپلې خولې نه وتُوکم. ١٧ ځکه چې تهٔ وائې چې زهٔ مالدار
او دولتمند يم او د څهٔ څيز حاجتمند نهٔ يم. حقه خو دا ده
چې تهٔ په دې نهٔ پوهېږې چې تهٔ څومره قابلِ رحم، بدنصيبه،
خوار، ړوند او بربنډ يې. ١٨ په دې وجه زهٔ تا له دا مشوره
درکوم چې زما نه په اور کښې صفا شوی سرهٔ زر واخله
چې مالدار شې او سپينې جامې رانه واخله چې ستا د
بربنډتوب شرم پرې د ليدو نه پټ شی، او ملهم رانه واخله
چې په سترګو کښې يې ولګوې او بينا شې. ١٩ زهٔ چې چا
سره مينه کوم هغوئ ملامته کوم او تربيت ورکوم، نو ځکه
غيرت وکړه او توبه وباسه. ٢٠ ګوره، زهٔ به ور کښې ولاړ
يم او ور وهم. او کهٔ تهٔ آواز اورې او ما ته ور کولاو کړې نو
زهٔ به درشم او يو بل سره به په شريکه روټۍ وخورو. ٢١ هر
څوک چې کامياب شی هغه به ما سره په تخت کښېنی، لکه
څنګه چې زهٔ په خپله کامياب شوم او د خپل پلار سره د هغهٔ
په تخت کښېناستم. ٢٢ د چا چې غوږونه وی، هغه دې
واورى چې روحُ القُدس جماعتونو ته څهٔ فرمائی.“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# په آسمان کښې د خُدائ پاک عبادت

۴ ۱ د دې نه وروستو بيا ما نظر واچولو نو په آسمان
کښې مې يو ور کولاو وليدو. نو چې اول کوم آواز ما
واورېدو نو لکه د بيګل په شان يې ما ته خبرې کولې، "دلته
پاس راشه چې زۀ به تا ته هغه وښايم څۀ چې به د دې نه پس
خامخا کيږی." ۲ سمدستی د روحُ القُدس په وسيله ما يوه
رويا وليدله چې په آسمان کښې يو تخت وو او په تخت يو
کس ناست وو. ۳ او هغه څوک چې هلته ناست وو د
جاسپر او يمنی عقيق په شان پړقېدو، او د تخت نه چاپېره د
بوړۍ ټال وو چې د زمرودو په شان پړقېدو. ۴ او د تخت
نه ګېرچاپېره څليريشت نور تختونه وُو او په هغوئ
څليريشت مشران ناست وُو چې سپينې جامې يې اغوستې
وې او د سرو زرو تاجونه يې په سر وُو. ۵ او د تخت نه د
برېښنا رڼا او د تندر آوازونه راختل او د تخت نه وړاندې
اووۀ مشعلونه بلېدل چې د خُدائ پاک اووۀ روحونه دی. ۶
او د تخت د وړاندې يې د شيشې سمندر وو چې د بلور په
شان ښکارېدو. او د تخت نه چاپېره څلور جاندار وُو چې
وړاندې وروستو يې سترګې وې. ۷ اول جاندار د ازمری په
شان وو، دويم د غوائی په شان، د دريم مخ د بنی آدم په شان
وو او څلورم لکه د الوتونکی باز په شان وو. ۸ دې څلورو
جاندارو چې د هر يو شپږ وزرې وې او هر طرف ته يې
سترګې وې، شپه او ورځ بغېر د دمې يې دا ثنا وئيله، "قُدوس،
قُدوس، قُدوس، قادر مطلق خُدائ پاک، هغه چې وو، چې
دے، او چې راتلونکے دے." ۹ او هرکله چې دا جاندار د
هغه چا چې په تخت ناست دے او تل تر تله ژوندے دے، د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغهٔ لوئی، عزت او شُکر ګزاری وکړی، ١٠ نو هغه
څلیریشت مشران هغهٔ ته په سجده پرېوځی او عبادت يې
کوی څوک چې په تخت ناست دے، او چې تل تر تله ژوندے
دے، نو هغوئ خپل تاجونه د تخت په وړاندې هغهٔ ته ږدی او
وائی چې، ١١ ”اے زمونږ مالِکه خُدايه پاکه، تهٔ د لوئی،
عزت او قُدرت لائق يې ځکه چې تا هر څهٔ پېدا کړی دی او دا
ستا په مرضئ پېدا شوی دی او په وجود کښې راغلی دی.“

## طومار او ګډورے

٥ ١ هغه څوک چې په تخت ناست وو ما د هغهٔ په ښی
لاس کښې يو طومار وليدو چې دننه او بهر دواړو طرفو ته
پرې ليکل وُو او اووهٔ مهرونه پرې لګېدلی وُو. ٢ او ما يوه
طاقتوره فرښته وليده چې په اوچت آواز يې اعلان کولو چې،
”څوک د دې قابل دے چې طومار پرانيزی او مهرونه يې
مات کړی؟“ ٣ خو هيڅوک هم نهٔ وو، نهٔ په آسمان کښې،
نهٔ په زمکه او نهٔ د زمکې د لاندې وو چې طومار يې کولاو
کړے وے او يا يې دننه کتلے وے. ٤ نو ما ډېر وژړل
ځکه چې هيڅوک هم د دې لائق نهٔ وو چې دا طومار يې
پرانستلے شو يا چې يې ورته کتلے شو. ٥ بيا په مشرانو
کښې يو راته ووئيل چې، ”ژاړه مه ځکه چې د يهوداه د قبيلې
ازمرے چې د داؤد د نسل نه دے، هغه کاميابی حاصله کړې
ده نو طومار به پرانيزی او اووهٔ مهرونه به يې مات کړی.“
٦ بيا ما د تخت په مينځ کښې او د څلورو جاندارو او د
مشرانو په مينځ کښې يو لکه د حلال شوی ګډوری وليدو چې
اووهٔ ښکرونه او اووهٔ سترګې يې وې چې د خُدائ پاک اووهٔ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

روحونه دی چې ټولې دُنیا ته لیږلے شوی دی. ۷ او هغه
ورغلو او څوک چې په تخت ناست وو د هغهٔ د ښی لاس نه
يې هغه طومار واخستو. ۸ کله چې هغهٔ طومار واخستو نو
څلور جاندار او څليريشت مشران د هغه ګډُوری په وړاندې
په سجده شول، او د هر یو سره یو ستار وو او ورسره د
خوشبويۍ نه ډک د سرو زرو جامونه وُو چې د مقدسينو
دُعاګانې دی. ۹ او هغوئ دا نوے حمد وئیلو چې، "تهٔ د
دې لائق يې چې طومار واخلې او د دې مهرونه کولاو کړې
ځکه چې تهٔ حلال کړے شوې او د خپلې وينې په فدیه دې د
خُدائ پاک دپاره د هر خيل، د هرې ژبې او د هر قوم او خلق
په بیعه واخستل. ۱۰ او د هغوئ نه تا د اِمامانو بادشاهی
جوړه کړه چې زمونږ د خُدائ پاک خِدمت وکړی او هغوئ
به په زمکه بادشاهی کوی." ۱۱ بیا چې ما وکتل نو د
بې‌شمېره فرښتو آوازونه مې واورېدل چې هغه د تخت او د
جاندارو او د مشرانو نه چاپېره وې او د هغوئ شمېر په
زرګونو او لکونو کښې وو، ۱۲ او هغوئ په زوره سندرې
وئیلې چې، "هغه ګډُورے چې حلال کړے شو، د دې لائق
دے چې ټول قُدرت، دولت، حِکمت، لوئی، عزت، جلال او
برکت حاصل کړی." ۱۳ او بیا ما واورېدل چې ټول
مخلوقات چې په آسمان کښې، په زمکه باندې، د زمکې د
لاندې یا په سمندر کښې دی، هغوئ ټولو ثناء صِفت کولو
چې، "د هغه چا څوک چې په تخت ناست دے او ګډُوری ته
برکت، عزت، شان او قُدرت دې تل تر تله وی." ۱۴ او
څلور واړو جاندارو پرې، "آمین" ووې او مشران د عبادت
دپاره په سجده پرېوتل.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## اووۀ مهرونه

۶ ۱ بیا ما ولیدل چې هغه ګډُوری په اوو مهرونو کښې یو
مهر مات کړو او ما د څلورو جاندارو نه په یو کښې د تندر په
شان دا آواز واورېدو چې، ”راشه.“ ۲ نو ما وکتل چې هلته
یو سپین آس ولاړ وو او د سوارۀ سره یې لینده وه. هغۀ ته
تاج ورکړے شو او هغه د فاتح په حیث په آس سور لاړو چې
فتح بیا مومی. ۳ کله چې ګډوری دویم مهر مات کړو نو
ما واورېدل چې دویم جاندار وائی چې، ”راشه.“ ۴ او یو
بل آس بهر راووتو چې تک سور وو او د هغۀ سوارۀ ته دا
اختیار ورکړے شو چې د زمکې نه امن یوسی نو چې
انسانان قتل و غارت شروع کړی، او هغۀ له یوه لویه تُوره
ورکړے شوه. ۵ کله چې ګډُوری دریم مهر مات کړو نو
ما د دریم جاندار دا آواز واورېدو چې، ”راشه.“ نو ما ولیدو
چې یو تور آس راغلو او د هغۀ د سوارۀ په لاس کښې یوه تله
وه. ۶ او ما د څلورو جاندارو د مینځه یو آواز واورېدو
چې وئیل یې چې، ”د ورځې د مزدورۍ نرخ به د غنمو یوه
روټۍ او یا به د اوربشو درې روټۍ وی، خو د زیتُونو تېلو او
میو ته نقصان مۀ رسوئ.“ ۷ کله چې ګډُوری څلورم مهر
مات کړو نو ما د څلورم جاندار دا آواز واورېدو چې،
”راشه.“ ۸ ما ولیدو چې زیړ آس وو او د سوارۀ نوم یې
مرګ وو او عالمِ ارواح ورپسې جُخت راروان وو. هغوئ ته د
څلورمې برخې زمکې اختیار ورکړے شوے وو چې په
جنګ، په قحط، په وبا او ځنګلی ځناور خلق مړۀ کړی. ۹
هر کله چې ګډُوری پینځم مهر مات کړو نو ما د قربانګاه د
لاندې د هغه ایماندارانو روحونه وکتل چې د خُدائ پاک د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کلامِ او د خپلې ګواهۍ په وجه قتل کړې شوې وُو. ۱۰
هغوئ په زوره چغه کړه چې، "اے بادشاه مالِکه، پاکه او
رښتونی خُدایه. ترڅو به تهٔ فېصله نهٔ کوې او د زمکې د
اوسېدونکو نه به زمونږ د وینې بدل وانهٔ خلې؟" ۱۱ بیا هر یو
ته سپینه چُوغه ورکړې شوه او ورته یې ووئیل چې، "تر هغې
لږ صبر وکړئ چې په خِدمت کښې ستاسو ټول ملګری
ستاسو په شان ونهٔ وژلې شی." ۱۲ بیا ما وکتل چې
ګډُوری شپږم مهر مات کړو او یوه سخته زلزله راغله او نمر
د تبخې په شان تور شو او سپوږمۍ مکمله لکه د وینو تکه
سره شوه. ۱۳ او ستورې د آسمان نه په زمکه داسې
راپرېوتل لکه چې د اینځر نه د سیلۍ طوفان په وجه کچه مېوه
راپرېوځی. ۱۴ او آسمان داسې فنا شو لکه طومار چې بند
کړې شی او هر غر او هره جزیره د خپله ځایه بېځایه شوه.
۱۵ نو بیا د زمکې بادشاهانو، سردارانو، جرنیلانو، مالدارانو،
طاقتورو، غلامانو او آزادو ټولو خلقو په غارونو او د غرونو
په ګټانو کښې خپل ځانونه پټ کړل. ۱۶ او هغوئ غرونو او
ګټانو ته چغې وهلې چې، "په مونږ راپرېوځئ او مونږ د هغهٔ د
سترګو نه چې د تخت دپاسه ناست دے او د ګډُوری د قهر و
غضب نه پټ کړئ. ۱۷ ځکه چې د هغوئ د غضب لویه
ورځ راغلې ده او څوک ورته ودرېدے شی؟"

## په یو لاک څلور څلوېښتو زرو بنی اِسرائیلو مُهر لګېدل

۷ ۱ د دې نه پس ما څلور فرښتې د دُنیا په څلورو
ګوټونو ولاړې ولیدلې چې د دُنیا څلور واړه هواګانې یې قابو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کړې وې نو چې په زمکه سمندر يا په يوه ونه هم هوا ونۀ
لګی. ۲ بيا ما بله فرښته د نمرخاتۀ نه په راختو وليده چې د
ژوندی خُدائ پاک مهر ورسره وو او هغه څلورو فرښتو ته
يې په زوره وئيل، چې چا ته په زمکه او سمندر د نقصان
ورکولو اختيار ورکړې شوې وو چې، ۳ ”تر هغې
سمندر، زمکې او ونو ته نقصان مۀ رسوئ ترڅو چې مونږ د
خُدائ پاک مُهر د هغۀ د خادِمانو په تندو نۀ وی لګولې.“ ۴
او ما چې د هغوئ شمېر واورېدو چا ته چې مهرونه لګولې
شوی وُو او د بنی اِسرائيلو د ټولو خيلونو نه په يو لاک څلور
څلوېښت زرو مُهر ولګولې شو. ۵ دولس زره د يهوداه د
قبيلې نه، دولس زره د روبين د قبيلې نه، دولس زره د جاد د
قبيلې نه، ۶ دولس زره د آشر د قبيلې نه، دولس زره د
نفتالی د قبيلې نه، دولس زره د منسی د قبيلې نه، ۷ دولس
زره د شمعون د قبيلې نه، دولس زره د ليوی د قبيلې نه،
دولس زره د يساکار د قبيلې نه، ۸ دولس زره د زبولون د
قبيلې نه، دولس زره د يوسف د قبيلې نه، او دولس زره د
بنيامين د قبيلې وُو.

## د ټولو قومونو لويه ګڼه

۹ او د دې نه پس ما د خلقو لويه ګڼه وليده چې بې‌شمېره
وه، دا د ټولو قومونو، ټولو خيلونو او د مختلفو ژبو د
ويوونکو خلقو ګڼه د تخت او د ګډُورى د وړاندې ولاړه وه.
او هغوئ سپينې جامې اغوستې وې او د کجورو څانګې يې په
لاسونو کښې نيولې وې. ۱۰ او په زوره يې دا چغې وهلې
چې، ”خلاصون زمونږ د خُدائ پاک دے څوک چې په تخت

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ناست دے، او د ګډُورې دے.“ ١١ او د تخت نه او د
مشرانو او څلورو جاندارو نه چې ګېرچاپېره خومره فرښتې
ولاړې وې هغه ټولې فرښتې د تخت په وړاندې پړمخې پرېوتلې
او د خُدائ پاک عبادت يې وکړو، ١٢ هغوئ وئيل چې،
”آمين. برکت، لوئی، حِکمت، شُکر ګزاری، عزت، قُدرت او
زور دې تل تر تله زمونږ د خُدائ پاک وی، آمين.“ ١٣ بيا
مشرانو کښې يو ما ته مخ راواړولو او تپوس يې وکړو چې،
”دا خلق چې سپينې جامې يې اغوستې دی، څوک دی او د
کومې راغلی دی؟“ ١۴ ما جواب ورکړو چې، ”زما مالِکه، تهٔ
خبر يې.“ بيا هغهٔ ما ته وفرمائيل چې، ”دا هغه کسان دی چې
د لوئ مصيبتونو نه راغلی دی، هغوئ خپلې جامې د ګډُورې
په وينو وينځلې او په هغې سپينې کړې دی. ١۵ په دې وجه
خو دوئ د خُدائ پاک د تخت د وړاندې ولاړ دی او د خُدائ
پاک په کور کښې شپه او ورځ د هغهٔ په عبادت کښې لګيا
دی، او هغه چې په تخت ناست دے، هغه به دوئ له پناه
ورکړی. ١٦ هغوئ به بيا هيڅکله نهٔ اوږی کيږی، نهٔ تږی
کيږی، نمر به دوئ نهٔ تنګوی او نهٔ به تېزه ګرمی تکليف
وررسوی. ١٧ ځکه چې هغه ګډُورے چې د تخت په مينځ
کښې دے، هغه به د دوئ شپونکے وی او هغه به دوئ د
ژوندون د اوبو چينو ته بوځی، او خُدائ پاک به د دوئ د
سترګو نه ټولې اوښکې پاکې کړی.“

## اوؤم مُهر او د سرو زرو د سوزولو مجمر

٨ ١ کله چې ګډُورې اوؤم مُهر کولاو کړو نو تقريباً تر

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نیمې ګینټې پورې په آسمان کښې خاموشی وه. ۲ بیا ما
هغه اووۀ فرښتې ولیدلې چې د خُدائ پاک په وړاندې ولاړې
وې، او هغوئ ته اووۀ بیګلونه ورکړے شول. ۳ بیا یوه بله
فرښته د سرو زرو مجمر په لاس راغله او د قربان‌ګاه سره
ودرېده او هغې ته ډېره زیاته خوشبوئی ورکړے شوه چې د
تخت د وړاندې د سرو زرو په قربان‌ګاه یې د ټولو مقدسینو د
دُعا سره پېش کړی. ۴ او د فرښتې د لاس نه د خوشبویۍ
د سوزولو لوګے د مقدسینو د دُعا سره پاس خُدائ پاک ته
ورسېدو. ۵ بیا فرښتې مجمر راواخستو، د قربان‌ګاه د اور
نه یې ډک کړو او په زمکه یې راګزار کړو، نو بیا د تندر
ګړزار، برېښنا او زلزله راغله.

## د بیګل آواز

۶ بیا هغه اووۀ فرښتې چې ورسره اووۀ بیګلونه وُو، غږولو
ته تیارې وې. ۷ وړومبۍ فرښتې خپل بیګل وغږولو نو اور
او ږلۍ د وینې سره په زمکه راووریدل او د زمکې دریمه
حِصه وسوزیدله او د ونو دریمه حِصه وسوزیدله او ټول
شنۀ واښۀ وسوزیدل. ۸ بیا کله چې دویمې فرښتې خپل
بیګل وغږولو نو لکه یو لوئ غر چې اور پرې بل وی، سمندر
ته وغورزولے شو او د سمندر دریمه حِصه وینه شوه، ۹
او په دې باندې د سمندر دریمه حِصه ژوندی مخلوقات مړۀ
شول او د سمندری جهازونو دریمه حِصه په اوبو کښې ډوب
شول. ۱۰ نو بیا دریمې فرښتې خپل بیګل وغږولو نو یو لوئ
ستورے له آسمان نه راوغورزېدو چې د مشعل په شان بلېدو
او دا د سیندونو او چینو په دریمه حِصه ورپرېوتو. ۱۱ د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ستورى نومِ ګنډير وو. او د اوبو دريمه حِصه د ګنډير په
شان ترخه شوه او ډېر زيات خلق د دې ترخو اوبو څښلو په
وجه مړهٔ شول. ۱۲ بيا څلورمې فرښتې خپل بيګل وغږولو
نو دې سره د نمر دريمه حِصه او د سپوږمۍ او د ستورو
دريمه حِصه ووهلے شوه نو د دوئ دريمه حِصه تيارهٔ شوله
او د ورځې دريمه حِصه رڼا ختمه شوه او دغه شان د شپې
دريمه حِصه رڼا هم ختمه شوه. ۱۳ بيا ما وليدل چې يو باز
په آسمان کښې بره والوتو او په اوچت آواز يې دا نعرې وهلې
چې، ”افسوس، افسوس، افسوس، د زمکې په اوسېدونکو
باندې، ځکه چې هغه درې نورې پاتې فرښتې به هم اوس خپل
بيګل غږوى.“

# ۹

۱ بيا پينځمې فرښتې خپل بيګل وغږولو او ما يو
ستورے وليدو چې د آسمان نه زمکې ته راپرېوتے وو او هغه
ستورى ته د عالمِ ارواح چابيانې ورکړے شوې وې. ۲ کله
چې هغهٔ عالمِ ارواح کولاو کړه نو د هغه لوئې کندې نه د بټۍ
په شان لوګے راوختلو او د عالمِ ارواح لوګى نمر او باد تور
کړل. ۳ بيا د لوګى نه په زمکه مُلخان راغلل او هغوئ د
زمکې د لړمانو په شان د چيچلو اختيار ورکړے شو. ۴
هغوئ ته دا حُکم ورکړے شوے وو چې واښو، ونو، او بوټو
ته هيڅ نقصان ونهٔ رسوئ خو بس هغه کسانو ته تک ورکړئ
د چا په تندى چې د خُدائ پاک مهر نهٔ وى لګېدلے. ۵
هغوئ ته اجازت ورکړے شوے وو چې د پينځو مياشتو
پورې هغوئ ته عذاب ورکړئ، خو دا نه چې هغوئ مړهٔ کړئ
او د هغوئ عذاب لکه د لړم د ټک په شان وو. ۶ په دې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ورځو کښې به خلق مرګ غواړی خو مرګ به ورته نۀ
ملاویږی، هغوئ به د مرګ خواهش کوی خو مرګ به د
هغوئ نه تښتی. ۷ دا مُلخان لکه د جنګی آسونو په شان وُو
او د هغوئ په سرونو تاجُونه لکه د سرو زرو په شان وُو او د
هغوئ مخونه د انسان په شان وُو. ۸ او د هغوئ وېښتۀ د
ښځو د وېښتو په شان وو او د هغوئ غاښونه د زمرو د
غاښونو په شان وُو. ۹ د هغوئ زغرې لکه د اوسپنو د
زغرو په شان وې او د هغوئ د وزرونو آوازونه لکه د ډېرو
جنګی ګاډو د آسونو په شان وُو کوم چې حمله کوونکی وی.
۱۰ د هغوئ په لکو کښې د لړمانو په شان لشې وې او د
هغوئ ټک ورکولو به انسانان تر پينځو مياشتو پورې عذابول.
۱۱ او د هغوئ بادشاه د عالمِ ارواح فرښته وه چې په عبرانی
کښې د هغې نوم ابدون، او په يونانی ژبه کښې اپوليون، يعنې
تباه کوونکے دے. ۱۲ اولنے افسوس تېر شو خو دوه نور
لا راتلونکی دی. ۱۳ بيا هغه شپږمې فرښتې خپل بيګل
وغږولو او ما يو آواز واورېدو چې د خُدائ پاک په وړاندې
ولاړ د سرو زرو د قربان‌ګاه د څلورو ښکرونو د مينځ نه
راووتو. ۱۴ هغۀ شپږمې فرښتې ته ووئيل چا سره چې بيګل
وو چې، ”د لوئ فرات د سيند په غاړه تړلې څلور فرښتې
آزادې کړه.“ ۱۵ نو هغه څلور فرښتې آزادې کړې شوې
ځوک چې د دريمې برخې بنی آدمو د وژلو دپاره د دې کال،
د دې مياشتې، د دې ورځې او د دې ساعت دپاره مقرر شوې
وې. ۱۶ نو ما ته ووئيلے شول چې په آسونو د سوارو
فوجيانو شمېر شل کروړه وو. ۱۷ او دغسې ما هغه آسونه
او د هغوئ سوارۀ په خپله رويا کښې وليدل، هغوئ د اور په
شان ځلېدونکی سرې، آسمانی رنګې او د ګوګړو په شان

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زیړې زغرې اغوستې وې. او د آسونو سرونه یې د زمرو د
سرونو په شان وُو او د هغوئ خولې نه اور، لوګے او ګوګړ
راوتل. ١٨ په دې درې افتونو د دُنیا دریمه حِصه خلق مړۀ
شول یعنې په اور، لوګی او ګوګړو کوم چې د هغوئ د خولې
نه راوتل. ١٩ د آسونو طاقت د هغوئ په خولو او لکو کښې
وو. نو د هغوئ د لکو لکه د مارانو په شان سرونه وُو او د
انسانانو د زخمی کولو طاقت ورسره وو. ٢٠ خو دې افتونو
کښې چې کوم انسانان ژوندی پاتې شول هغوئ د خپلو بدو
عملونو نه توبه ونۀ ویستله. او هغوئ د پیریانو او د سرو
زرو، سپینو زرو، زیړو، کاڼو او د لرګو نه د جوړو شوو بُتانو
عبادت کول پرې نۀ ښودل، کوم بُتان چې نۀ لیدلے او نۀ
اورېدلے او نۀ ګرځېدلے شی. ٢١ او نۀ هغوئ د خپلو
قتلونو، جادوګرۍ، حرامکارۍ، او نۀ یې د خپلو غلاګانو نه
توبه وویستله.

## فرښته او ورکوټے طومار

١٠ ١ بیا ما یوه بله طاقتوره فرښته د آسمان نه په
راکوزېدو ولیده چې په وریځ کښې پټه وه او چې د بوډۍ ټال
یې په سر وو، مخ یې د نمر په شان ځلېدو او پښې یې د اور د
ستنو په شان وې. ٢ او د هغې په لاس کښې یو ورکوټے
پرانستلے شوے طومار وو. هغې ښۍ پښه په سمندر کښې
کېښوده او ګسه پښه یې په زمکه ایښې وه. ٣ بیا هغې د
ازمری د غړمبار په شان یوه لویه چغه ووېستله او کله چې
هغې چغه کړه نو اووۀ تندرونه وګړزېدل. ٤ او کله چې اوو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

واړه تندرونه وګړېدل، نو ما دا ليکل نو بيا ما د آسمان نه يو
آواز واورېدو چې وئيل يې، ”دا پټ وساته څۀ چې اوو واړه
تندرونو ووئيل، او دا مۀ ليکه.“ ۵ بيا هغه فرښته کومه چې
ما په سمندر او په زمکه ولاړه ليدلې وه هغې خپل ښے لاس
آسمان طرف ته اوچت کړو. ۶ او قسم يې په هغه چا
وخوړلو څوک چې تل تر تله ژوندے دے چا چې په آسمان،
زمکه، سمندر او هر څۀ چې په دوئ کښې دی پېدا کړی دی.
هغۀ ووئيل چې، ”نور انتظار کول به نۀ وی. ۷ په هغه
ورځو چې کله اوومه فرښته خپل بيګل وغږوی نو د خُدائ
پاک پټ رازونه به پوره شی څنګه چې هغۀ خپلو خادِمانو
نبيانو ته فرمائيلی وُو.“ ۸ هغه آواز چې ما د آسمان نه
اورېدلے وو، بيا ما سره په خبرو شو او وې فرمائيل چې،
”لاړ شه او په سمندر او په زمکه ولاړې فرښتې د لاس نه هغه
پرانستلے شوے طومار واخله.“ ۹ نو زۀ هغې فرښتې له
لاړم او ورته مې ووئيل چې، ”ما ته هغه پرانستلے شوے
ورکوټے طومار راکړه.“ نو هغې ما ته ووئيل چې، ”دا واخله
او وې خوره، دا به ستا خېټه ترخه کړی خو ستا په خولۀ
کښې به لکه د شاتو خوږ وی.“ ۱۰ نو ما هغه ورکوټے
طومار د فرښتې د لاس نه واخستو او ومې خوړلو. دا زما په
خولۀ لکه د شاتو خوږ ولګېدو خو چې مې تېر کړو نو زما
خېټه يې ترخه کړه. ۱۱ بيا ما ته ووئيلے شُو چې، ”دا
ضروری دی چې تۀ د ډېرو خلقو او قومونو او ژبو او
بادشاهانو په حقله پېشګوئي وکړې.“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## دوه ګواهان

۱۱ ۱ ما ته د ناپ کولو د ګز په شان يوه لښته راکړې
شوه او راته ووئيلې شو چې، ”اوس پاڅه او د خُدائ پاک
کور او قربانګاه کچ کړه او عبادت کوونکی شمار کړه. ۲
خو د خُدائ د کور بهر دربار مهٔ کچ کوه ځکه چې دا غېرو
قومونو ته ورکړې شوې دې او هغوئ به دا مقدس ښار تر
دوو څلوېښتو مياشتو پورې د پښو لاندې کړی. ۳ او زهٔ به
خپل دوه ګواهان د ټاټ جامې اغوستې د پېشګويئ دپاره
مقرر کړم او دوئ به تر دولس سوه شپېتو ورځو پورې نبوت
کوی.“ ۴ دا هغه دوه د زيتون ونې او دوه ډيوټونه دی کوم
چې د زمکې د مالِک د وړاندې ولاړ دی. ۵ کهٔ څوک دوئ
ته نقصان رسول غواړی نو د دوئ د خولې نه اور راوځی او
د دوئ دشمنان به وسوزوی او دغه شان به هر هغه څوک
چې دوئ ته نقصان رسول غواړی، نو هغوئ به په دې طريقه
مړهٔ کړې شی ۶ هغوئ سره به دا اختيار وی چې آسمان
بند کړی چې د دوئ د پېشګويئ په دور کښې به بيا باران ونهٔ
شی، او په اوبو د دوئ دا اختيار هم شته چې وينې ترې
جوړې کړی او چې څومره غواړی دومره افتونه په زمکه
راولی. ۷ کله چې دوئ خپله ګواهی پوره کړی نو د عالمِ
ارواح نه به هغه بلا راوځی او دوئ سره به جنګ ونښلوی او
کامیابه به شی او مړهٔ به يې کړی. ۸ او د هغوئ لاشونه به
د لوئ ښار په کوڅو کښې پراتهٔ وی، چې د مِثال په توګه ورته
سدوم او مِصر وئيلې شی، په کوم ځائ کښې چې د دوئ
مالِک هم په سولئ شوې وو. ۹ تر درې نيمو ورځو پورې
به خلق، د هرې قبيلې، د هرې ژبې او د هر قوم نه د دوئ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لاشونو ته ګورى او د دوئ د لاشونو د ښخولو اجازت به
ورنۀ کړى. ۱۰ د زمکې ټول خلق به ورته په سترګو کښې
خاندى او خوشحالئ به کوى او يو بل ته به تحفې ورکوى
ځکه چې دې دواړو نبيانو د زمکې ټول خلق عذابول. ۱۱ خو
د درې نيمو ورځو نه پس خُدائ پاک په هغوئ کښې د ژوند
ورکولو روح واچولو او هغوئ په خپلو پښو ودرېدل او چا
چې دا وليدل، هغوئ ټول يرېدل. ۱۲ بيا دوئ يو اوچت آواز
د آسمان نه واورېدو چې هغوئ ته يې وئيل چې، ”دلته
راشئ.“ او هغوئ په وريځو کښې آسمان ته وختل او دشمنانو
هغوئ ته کتل. ۱۳ هم په دغه وخت يوه سخته زلزله راغله،
او د ښار لسمه حِصه راوغورزېدله. اووۀ زره کسان په دې
زلزله کښې هلاک شول او نورو په يره کښې د آسمانى خُدائ
پاک ثنا وئيله. ۱۴ دويم افسوس تېر شو خو ګورئ دريم زر
راتلونکے دے.

## اووم بيګل

۱۵ بيا اوومې فرښتې خپل بيګل وغږولو او په آسمان کښې
په زوره دا چغې شوې چې وئيل يې چې، ”د دُنيا د بادشاهئ
حق زمونږ د مالِک خُدائ او د هغۀ د مسيح دے او هغه به تل
تر تله حکومت کوى.“ ۱۶ بيا هغه څليرويشت مشران چې د
خُدائ پاک د وړاندې په خپلو تختُونو ناست وُو، هغوئ
پړمخې په سجده پرېوتل او د خُدائ پاک عبادت يې وکړو،
۱۷ او دا يې وئيل چې، ”اے مالِکه قادر مطلق خُدايه، مونږ
ستا شُکر کوُو، تۀ چې يې او چې وې، ځکه چې تا خپل لوئ
طاقت استعمال کړو او بادشاهى دې شروع کړه. ۱۸ قومونه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د قهر نه ډک شوی دی خو اوس ستا د قهر وخت راغلے
دے، دا د مړو د عدالت کولو وخت دے. ستا د خادِمانو
نبیانو د اجر وخت او ستا د مقدسینو او د هغه ټولو خلقو د
لویو نه واخله تر وړو پورې د اجر ورکولو وخت راغلے
دے، څوک چې ستا د نوم نه یرېدل. او دا اوس د هغوئ د
تباه کېدلو وخت دے چا چې په زمکه کښې تباهي راوستله.“
۱۹ نو بیا په آسمان کښې د خُدائ پاک کور پرانستے شو او
په هغه کور کښې د هغهٔ د لوظ صندوق ښکاره شو، او بیا د
برېښنا شُغلې، د تندر ګړزار، زلزله او د ږلۍ یو لوئ طوفان
راغلو.

## ښځه او اژدها

۱۲ ۱ نو بیا په آسمان کښې یوه لویه نښه ښکاره شوه
چې یوه ښځه وه چې نمر یې لکه د جامو اغوستے وو او
سپوږمۍ د هغې د پښو لاندې وه او د هغې په سر د دولسو
ستورو تاج وو. ۲ هغه اُمیدواره وه او د ماشوم د پېدا کېدو
د درد په وجه یې چغې وهلې. ۳ بیا یوه بله نښه په آسمان
کښې ښکاره شوه چې یوه لویه سره اژدها وه چې اووهٔ
سرونه او لس ښکرونه یې وُو او په سرونو یې اووهٔ واړه
تاجونه وُو. ۴ هغې په خپله لکۍ دریمه حِصه ستورى د
آسمان نه راښکل او په زمکه یې راغورزول. اژدها د هغې
ښځې په وړاندې ودرېدله چې د ماشوم د پېدا کېدو په دردونو
آخته وه د دې دپاره چې هر کله چې د هغې ښځې بچے وشی
چې لواړ یې تېر کړی. ۵ د هغې ماشوم پېدا شو چې هلک
وو کوم چې به په ټولو قومونو یعنې زورَور حکومت کوی.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خو د هغې ماشوم سمدستی خُدائ پاک ته ونیولے شو او د
هغهٔ تخت ته راوستے شو. ۶ او ښځه بیابان ته وتښتېدله
چرته چې د هغې د ساتنې دپاره خُدائ پاک ځائ تیار کړے
وو چې هلته به د هغې د دولسو سوو شپېتو ورځو پورې
حفاظت کیږی. ۷ بیا په آسمان کښې جنګ ونښتو.
میکائیل او د هغې فرښتو د اژدها خلاف جنګ وکړو. او
اژدها او د هغې فرښتو هم د هغوئ خلاف جنګ وکړو. ۸
خو اژدها شکست وخوړو او د خپلو ملګرو سره د آسمان نه
وشړل شو. ۹ نو دا لویه اژدها لاندې راوغورزولے شوه،
هغه زوړ مار چې شیطان یا اِبلیس بللے شی چې ټوله دُنیا یې
دوکه کړې ده، هغه د خپلو فرښتو سره لاندې زمکې ته راګزار
کړے شو. ۱۰ بیا ما په آسمان کښې یو اوچت آواز واورېدو
چې داسې یې وئیل چې، "اوس خلاصون، قُدرت او زمونږ د
خُدائ پاک بادشاهی او د هغهٔ د مسیح اختیار راغلے دے،
ځکه چې زمونږ په ورونړو اِلزام لګوونکی چې شپه او ورځ
زمونږ د خُدائ پاک په مخکښې په هغوئ اِلزام لګوی، نو هغه
د آسمان نه سر د لاندې راغورزولے شوی دی. ۱۱ خو
هغوئ په هغهٔ د ګډُوری د وینې او د هغوئ د ګواهئ کولو په
وسیله کامیاب شول، او هغوئ خپل ځان عزیز ونهٔ ګڼلو تر
دې چې مرګ ته تیار شول. ۱۲ نو اے آسمانونو او په دې
کښې اوسېدونکو خلقو، خوشحالی کوئ. خو اے زمکې او
سمندره، په تاسو دې افسوس وی ځکه چې اِبلیس ډېر په
غصه تاسو ته ښکته راغلو ځکه چې هغه خبر دے چې د هغهٔ
وخت لنډ دے." ۱۳ نو چې کله اژدها خپل ځان په زمکه
راغورزېدلے ولیدو نو هغه، هغه ښځې پسې شوه چې زوئ یې
شوے وو. ۱۴ خو ښځې ته د لوئ باز دوه وزرونه ورکړے

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شول نو چې هغه په بیابان کښې د اژدها نه خپل هغه ځائ ته
والوځی چرته چې به تر درې نیم کالو پورې د هغې خیال
وساتلے شی او محفوظه وی. ۱۵ بیا اژدها د خپلې خولې نه
د اوبو یو سیلاب ویهیولو چې هغه ښځه لاهو کړی. ۱۶ خو
زمکې د ښځې مدد وکړو، او د اژدها د خولې هغه سیلاب یې
تیر کړو. ۱۷ بیا اژدها هغه ښځې ته غصه شوه او د هغې د
نور نسل سره د جنګ دپاره لاړه، دا هغه خلق دی چې د
خُدائ پاک حُکمونه منی او د عیسیٰ په ګواهئ ټینګ ولاړ دی.
۱۸ بیا اژدها د سمندر په غاړه ودریده.

## اولنۍ بلا

۱۳ ۱ بیا ما د سمندر نه یوه بلا په راوتو ولیده. د هغې
لس ښکرونه او اووهٔ سرونه وُو، او د هغې په ښکرونو لس
واړه تاجونه وُو او د دې په هر سر د کُفر جدا جدا نومونه
وُو. ۲ او کومه بلا چې ما ولیده، هغه د پړانګ په شان وه
خو د هغې پښې د مېلو په شان وې او خولهٔ یې د ازمری په
شان وه. او اژدها هغې ته خپل طاقت، بادشاهی او لوئ
اختیار ورکړو. ۳ داسې ښکارېده چې د هغې یو سر د
مرګی ګزار خوړلے وو خو د هغې ګزار ټیک شوے وو او
ټوله دُنیا په هغې بلا پسې په حېرانتیا روانه وه. ۴ هغوئ د
اژدها عبادت وکړو ځکه چې هغې خپل اختیار بلا ته ورکړو،
هغوئ د بلا عبادت هم وکړو او دا یې ووئیل چې، "څوک د
دې بلا په شان زورَوره ده، او څوک د دې خلاف جنګ
کولے شی؟" ۵ او بلا ته دا اختیار ورکړے شو چې غټې
غټې او د کُفر خبرې وکړی، او تر دوو څلوېښتو میاشتو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پورې د حکومت کولو اجازت ورکړے شو. ۶ هغې په
خپله خوله د خُدائ پاک خلاف د کُفر خبرې وکړې او د
خُدائ نوم او د هغهٔ د استوګنې ځائ او آسمانی مخلوق پسې
يې کُفر وغرولو. ۷ هغې ته دا اجازت هم ورکړے شو چې
د مقدسينو سره جنګ وکړی او پرې کامیابه شی، او په ټولو
خیلونو او خلقو، ژبو او قومونو اختيار ورکړے شو. ۸ او
د زمکې ټول اوسېدونکی به د هغې عبادت وکړی هغوئ ټول د
چا نومونه چې د هغه حلال شوی ګډُوری د ژوندون په کِتاب
کښې د ازل نه لیکلے شوی نهٔ دی. ۹ د چا چې غوږونه
وی هغه دې واوری. ۱۰ کهٔ چا ته قیدېدل وی هغه به قید
شی، کهٔ څوک په تُوره قتل کېدل وی نو هغه به په تُوره قتل
شی. په دې مقدسينو ته زغم او ایمان په کار دے.

## دويمه بلا

۱۱ بيا ما يو بله بلا وليده چې د زمکې نه راووتله، د هغې د
ګډُوری په شان دوه ښکرونه وُو او دې د اژدها په شان خبرې
کولې. ۱۲ هغه د اولنۍ بلا ټول اختیار د هغې په ځائ
استعمالوی، زمکه او د دې اوسېدونکی دې خبرې ته
مجبوروی چې د اولنۍ بلا عبادت وکړی چې د چا د مرګی
زخم ټیک شوے دے. ۱۳ هغې غټې معجزې کولې تر دې
چې د خلقو په وړاندې يې د آسمان نه زمکې ته اور نازل کړو.
۱۴ او هغې له دا اختيار ورکړے شو چې د هغې اولنۍ بلا په
ځائ معجزې وکړی او د دُنیا اوسېدونکی دوکه کړی او ورته
يې حُکم وکړو چې د هغې اولنۍ په شان يو بُت جوړ کړئ چې
د تُورې ګزار يې خوړلے وو خو بيا هم لا ژوندې وه. ۱۵ او

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ورته دا اختيار ورکړے شو چې د بلا په بُت کښې ساه
واچوی نو چې د خبرو طاقت هم ورکړی او هغوئ څوک
چې ورته سجده نۀ کوی، مړۀ کړی. ۱۶ هغۀ دا هم وکړل
چې واړۀ او لوئ، مالداره او غريب، آزاد او غلامان ټول دې
په ښی لاس يا په تندی يوه نښه ولګوی. ۱۷ او چا ته هم د
څۀ اخستلو يا خرڅولو اجازت تر هغې نۀ وو ترڅو پورې به
چې د دې بلا نښه، يا د هغې د نامې شمېره پرې نۀ وه. ۱۸
نو په دې وخت کښې د دې حکمت ضرورت دے. څوک
چې پوهه وی هغه دې د دې بلا د نامې د شمېرې حساب
وکړی، دا شمېره د يو سړی ده او د هغۀ د شمېرې حساب
شپږ سوه شپږ شپېتۀ دے.

## د يو لاک څلور څلوېښت زره کسانو حمد

۱۴ ۱ بيا ما وليدل چې د صيون په غرۀ باندې ګډُورے
ولاړ وو چې ورسره يو لاک څلور څلوېښت زره کسان وُو
چې په تندو يې د هغۀ نوم او د هغۀ د پلار نوم ليکلے شوے
وو. ۲ او ما د آسمان نه داسې آواز واورېدو لکه د سيند د
اويو غړمبار او يا لکه د تندر د ګړزار، او دا د هغه آوازونو په
شان وو لکه چې ستار غږوونکی خپل ستارونه غږوی. ۳
او هغوئ د تخت او د څلورو ژواندارو او مشرانو په وړاندې
يو نوے حمد وئيلو، او دا حمد بې د هغه يو لاک څلور
څلوېښت زرو کسانو نه چې د زمکې نه په بيعه اخستے
شوی وُو، او د دوئ نه بغېر بل هيچا نۀ شو زده کولے. ۴
دا هغه خلق دی چا چې خپل ځانونه د ښځو سره د يو ځائ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کېدو نه ساتلی دی، او ګډُوری پسې روان دی چرته چې هم
ګډُورے ځی. دوئ د خُدائ پاک او د ګډُوری دپاره د بنی
آدمو نه د اولنی مېوې په طور په بيعه اخستے شوی دی. ۵
د هغوئ ژبو کله دروغ نۀ وو وئيلی او هغوئ بې‌داغه دی.

## د درېو فرښتو پېغامونه

۶ بيا ما د آسمان په مينځ کښې بله فرښته په الوتو وليدله
چې د زمکې هر قوم، خيل، ژبې او خلقو له يې د تل زيرے
ورکولو. ۷ هغې په اوچت آواز چغې کړې چې، ”د خُدائ
پاک نه يرېږئ او د هغۀ ثنا ووايئ ځکه چې د هغۀ د عدالت
وخت راغلے دے. او د هغۀ عبادت وکړئ چا چې آسمان او
زمکه، سمندر او د اوبو چينې پېدا کړی دی.“ ۸ بيا هغې نه
وروستو بله دوېمه فرښته راغله او هغې وئيل چې،
”وغورزېدو، لوئ بابل وغورزېدو چې په ټولو قومونو يې د
خپلې زناکارۍ او مستۍ د شرابو نه څښلی دی.“ ۹ بيا هغې
نه وروستو بله درېمه فرښته راغله او په اوچت آواز يې چغې
کړې، ”هر هغه څوک چې د بلا او د هغې بُت ته عبادت کوی
او د هغې نښه په تندی يا په خپل لاس لګوی، ۱۰ هغوئ به د
خُدائ پاک د قهر او د غضب مے وڅښی کوم چې هغۀ د
خپل سخت غضب په پيالۍ کښې اچولی دی. هغوئ به د پاکو
فرښتو او د ګډُوری په وړاندې په اور او د ګوګړو په شغلو
کښې عذابولے شی. ۱۱ او د هغوئ د عذاب لوګے به تل تر
تله راوچتيږی او هر هغه څوک چې بلا يا د هغۀ د بُت عبادت
کوی يا د هغۀ د نوم نښه اخلی، د هغوئ به نۀ د شپې او نۀ د
ورځې آرام وی.“ ۱۲ په دې کښې د هغه مقدسينو زغم او

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

برداشت ضرور دے چې د خُدائ پاک حُکمونه منی او د
عیسیٰ وفادار پاتې کیږی. ۱۳ نو بیا ما د آسمان نه یو آواز
واوریدو چې وئیل یې، ”دا ولیکه، بختور دی هغه څوک چې د
دې نه پس به په مالِک کښې مړهٔ کیږی.“ او روحُ القُدس
فرمائی چې، ”بې‌شکه بختور دی ځکه چې له دې نه پس به
هغوئ د کړېدو نه په آرام وی، ولې چې د دوئ نیک عملونه به
ورسره ملګری وی.“

## د دُنیا لَو کېدل

۱۴ بیا ما وکتل نو یوه سپینه وریځ راښکاره شوه او په هغې
چې څوک ناست وو هغه د اِبن آدمٖ په شان وو. د هغهٔ په سر
د سرو زرو تاج وو او په لاس کښې یې تېرهٔ لور وو. ۱۵ یوه
بله فرښته د خُدائ د کور نه بهر راووتله او په وریځ ناست ته
یې په اوچت آواز ووئیل چې، ”خپل لور ورواچوه او وریبه،
ځکه چې د فصل د ریبلو وخت راغلے دے او د دُنیا فصل
مکمل پوخ شوے دے.“ ۱۶ نو هغه څوک چې په وریځې
ناست وو هغهٔ خپل لور دُنیا ته ورواچولو او د هغې فصل یې
وریبلو. ۱۷ بیا یوه بله فرښته د خُدائ پاک د آسمانی کور نه
راووتله او د هغې سره هم یو تېرهٔ لور وو. ۱۸ او بیا بله
فرښته د قربان‌ګاه نه راووتله، دا هغه فرښته وه چې په اور یې
اختیار وو، او هغې د تېرهٔ لور لرونکی ته په اوچت آواز چغه
کړه چې، ”خپل تېرهٔ لور ورواچوه او په زمکه د انګورو د
بوټو نه فصل راغونډ کړه ځکه چې انګور یې پاخهٔ شوی
دی.“ ۱۹ نو فرښتې خپل لور ورواچولو او په دُنیا یې د
انګورو د بوټو فصل راټول کړو او هغه یې د خُدائ پاک د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

غضب په هغه لویه لنګرۍ کښې ورواچول. ٢٠ انګور یې د
ښار نه بهر په لنګرۍ کښې دومره نچوړ کړل چې تر یو سل
اتیا میله پورې د هغې نه د وینو سېلاب روان شو او دا وینې
دومره بره روانې وې چې د آسونو واګو ته اورسېدې.

## فرښتې او آخری اووۀ افتونه

١٥ ١ بیا ما په آسمان کښې بله یوه لویه او عجیبه نښه
ولیدله. اووۀ فرښتې وې چې ورسره د ټولو نه آخری اووۀ
افتونه وُو، ځکه چې په دې افتونو سره د خُدائ پاک قهر
سوړ شو. ٢ او ما ولیدل چې د شیشې د سمندر په شان
راښکاره شو چې اور په کښې ګډ شوے وو، او د شیشې د
سمندر سره هغه خلق ولاړ وُو چې په بلا او د هغې د بُت او د
هغې د نوم په شمېر فتح موندلې وه. د هغوئ په لاسونو کښې
د خُدائ پاک ورکړې ستارونه وُو. ٣ هغوئ د خُدائ پاک
د غلام موسیٰ او ګډُوری حمدونه ووئیل چې، ”اے مالِکه
قادر مطلق خُدایه پاکه، ستا کارونه لوئ او عجیبه دی او ستا
لارې د حق او رښتیا دی، اے د قومونو بادشاه. ٤ اے
مالِکه څوک به یره ونۀ کړی او ستا د نوم لوئی به ونۀ کړی؟
ځکه چې یواځې تۀ پاک یې. ټول قومونه به راشی او ستا په
وړاندې به عبادت وکړی ځکه چې ستا د صداقت کارونه
ښکاره شوی دی.“ ٥ او د دې نه پس ما ولیدل چې په
آسمان کښې د خُدائ په کور کښې د ګواهۍ د خیمې پاک
ځائ کولاو شو، ٦ او د هغې نه اووۀ فرښتې د اوو افتونو
سره راووتلې او هغوئ د کتان جامې اغوستې وې چې صفا

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او ځلېدونکي وې او په سينو يې د سرو زرو سينه بندونه وُو.
٧ بيا په څلورو جاندارو کښې يو هغه اووهٔ فرښتو ته د
سرو زرو اووهٔ جامونه ورکړل چې د خُدائ پاک د قهر نه
ډک وُو، د هغه خُدائ پاک چې تل تر تله ژوندے وى. ٨ او
د خُدائ پاک کور د خُدائ د جلال او قُدرت د لوګى نه ډک
شو او تر هغې هيڅوک ورننوتے نهٔ شو ترڅو چې د اووهٔ
فرښتو اووهٔ افتونه پوره شوى نهٔ وُو.

## د خُدائ پاک د قهر جامونه

١٦ ١ بيا ما د خُدائ پاک د کور نه يو اوچت آواز
واورېدو چې هغه اووهٔ فرښتو ته يې وئيل چې، "لاړې شئ او
د خُدائ پاک د قهر اووهٔ جامونه په زمکه توئ کړئ." ٢ نو
اوله فرښته لاړه او په زمکه يې خپل جام توئ کړو او د ناسور
خوراکى دانې په هغه خلقو ښکاره شوې چې د بلا نښه يې په
ځان کښې وه او هغه بُت ته يې عبادت کړے وو. ٣ او
دويمې فرښتې خپل جام په سمندر کښې توئ کړو او د هغې
اوبهٔ د مړى د وينې په شان شوې او په سمندر کښې هر
ژوندے څيز مړ شو. ٤ او دريمې فرښتې خپل جام په
دريابونو او په چينو کښې توئ کړو او وينې شول. ٥ بيا ما
واورېدل چې په اوبو اختيار لرونکې فرښتې ووئيل چې، "اے
قُدوسه خُدايه، تهٔ چې يې او وې، تهٔ په خپل عدالت کښې
صادق يې. ٦ ځکه چې هغوئ د مقدسينو او ستا د نبيانو
وينې توئ کړې دى او تا هغوئ ته د څښلو دپاره وينې
ورکړې، هغوئ د دې سزا لائق دى." ٧ او ما د قربانګاه
نه يوه چغه واورېدله، "آو، مالِکه خُدايه پاکه، تهٔ په ټولو قادر

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

یې، ستا ټولې فیصلې رښتینې او په حقه دی.“ ۸ او
څلورمې فرښتې خپل جام په نمر توئ کړو او دا اختیار ورله
ورکړې شو چې په خپلو شغلو خلق وسیزی. ۹ او هغوئ
بد بد وسوزېدل خو هغوئ د خُدائ پاک په نوم کُفر ووئیلو،
چا سره چې د دې افتونو د نازلولو اختیار دے، خو هغوئ د
توبه ویستلو نه اِنکاری شول او نۀ یې د هغۀ ثنا ووئیله. ۱۰
او پینځمې فرښتې د بلا په تخت خپل جام توئ کړو او د هغۀ
په بادشاهئ کښې تیارۀ شوله. او خلقو د درد نه خپل غاښونه
چیچل، ۱۱ او هغوئ د خپل درد او د ناسور په وجه آسمانی
خُدائ پاک ته کُفر ووې، او څۀ بد کارونه چې هغوئ کړی
وُو، د هغې نه یې توبه ونۀ کړله. ۱۲ او شپږمې فرښتې خپل
جام د فرات په لوئ سیند کښې توئ کړو او د هغې اوبۀ وچې
شوې چې د نمرخاتۀ د بادشاهانو دپاره لار تیاره شی. ۱۳ بیا
ما ولیدل چې د اژدها، د بلا، او د دروغژن نبی د خولې نه د
چیندخانو په شان درې پیریان راووتل. ۱۴ دا هغه پیریان
دی چې معجزې ښائی، هغوئ د دې دپاره ځی چې د دُنیا ټول
بادشاهان د قادر خُدائ پاک د لوئ ورځې د جنګ دپاره
راجمع کړی. ۱۵ ”ګورئ، زۀ د غل په شان درځم. بختور
دے هغه چې بېدار وی او جامې یې اغوستې وی نو چې هغه
په بربنډ نۀ شی او خلق به د هغۀ شرم ونۀ وینی.“ ۱۶ نو
هغوئ بادشاهان هغه ځائ ته راجمع کړل چې په عبرانئ کښې
ورته ارمِګدون وائی. ۱۷ بیا اوومې فرښتې خپل جام په هوا
توئ کړو او د خُدائ د کور د تخت نه یو اوچت آواز راغلو
چې هغۀ وفرمائیل چې، ”هر څۀ پوره شول.“ ۱۸ له دې نه
پس د برېښنا شُغلې او د تندر ګړزا او یوه دومره سخته زلزله
راغله چې د بنی آدم د پیدایښت راسې چرې هم نۀ وه راغلې.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۹ او هغه لوئ ښار په دريو حِصو تقسيم شو او د دُنيا
ښارونه ونړېدل، او خُدائ پاک ته لوئ بابل راياد شو بلکې د
خپل غضب او قهر نه ډکه پياله يې په هغوئ وڅښله. ۲۰
هره يوه جزيره غيبه شوله او يو غر هم ليدے نۀ شو. ۲۱ او
په بنی آدمو له آسمان نه تقريباً پنځوس کلو وزن برابر ږلۍ
ووريدله او هغوئ د ږلۍ په افت خُدائ پاک ته کُفر ووئيلو
ځکه چې هغه افت ډېر سخت وو.

## مشهوره کنجره

۱۷ ۱ بيا هغه اووۀ فرښتې چې جامونه يې نيولی وُو، په
هغوئ کښې يوه ما له راغله او وې وئيل چې، ”راځه چې زۀ
درته د هغې لوئ کنجرې اَنجام وښايم چې د ډېرو سمندرونو
دپاسه په تخت ناسته ده. ۲ د دُنيا خلق په هغه شرابو نشه
شول کوم چې هغې دوئ ته ورکړی وُو او بيا يې د هغې سره
زنا وکړه.“ ۳ روحُ القُدس په ما غلبه وکړه او بيا فرښتې زۀ
بيابان ته بوتلم. هلته ما يوه ښځه وليده چې په يوې سرې بلا
سوره وه. چې د هغې په ټول بدن کُفر ليکلے وو او اووۀ
سرونه او لس ښکرونه يې وُو. ۴ هغه ښځې کاسنی سرې
جامې اغوستې وې چې د سرو زرو په کالو، جواهراتو او
ملغلرو سنګار شوې وه. د هغې په لاس کښې د سرو زرو
پيالۍ وه چې د پليتۍ او د هغې د حرامکارۍ د ناپاکۍ نه ډکه
وه. ۵ او د هغې په تندی يو نوم ليکلے وو چې يو پټ راز
دے، ”لوئ بابل، د کنجرو او د دُنيا د هرې پليتۍ مور.“ ۶
او ما وليدل چې هغه ښځه د مقدسينو په وينه او د عيسیٰ د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شهیدانو په وینه په نشه وه. کله چې ما هغه ولیده نو زهٔ ډېر
حېران شوم. ۷ خو فرښتې راته ووئیل چې، ”دا تهٔ دومره
ولې حېران یې؟ زهٔ به درته د دې ښځې او دا چې په کومې بلا
سوره ده چې اووهٔ سرونه او لس ښکرونه یې دی، د هغې راز
ښکاره کړم. ۸ کومه بلا چې تا ولیدله، هم هغه ده چې
ژوندۍ وه خو اوس ژوندۍ نهٔ ده، هغه به د عالمِ ارواح نه
راوخېژی او هلاکه به شی. او په دُنیا کښې هغه خلق چې د
چا نومونه چې له ازل نه د ژوندون په کِتاب کښې نهٔ دی
لیکلے شوی، هغوئ به د دې مړې بلا په بیا راښکاره کېدو
حېران شی. ځکه چې هغه مخکښې وه، اوس نشته خو بیا به
راځی. ۹ او د دې خبرو د پوهېدلو دپاره ډېر حِکمت په کار
دے. دا اووهٔ سرونه هغه اووهٔ غرونه دی چې دا ښځه پرې
ناسته ده، خو دوئ هم اووهٔ بادشاهان دی ۱۰ چې پینځهٔ
بادشاهان پخوا تېر شوی دی او یو ژوندے دے او یو بل به
راځی، او کله چې هغه راشی نو هغه به د لږ وخت دپاره وی.
۱۱ او هغه بلا چې یو وخت ژوندۍ وه او اوس ژوندۍ نهٔ
ده، هغه اتم بادشاه دے، خو بیا هم هغه د اوو نه یو دے او
هغه به هلاک شی. ۱۲ کوم لس ښکرونه چې تا ولیدل، هغه
لس بادشاهان دی چې هغوئ لا حکومت نهٔ دے شروع
کړے، خو هغوئ به د یوې ګینټې دپاره د بلا سره د بادشاهۍ
اختیار ومومی. ۱۳ د هغه ټولو یو مقصد دے چې خپل
طاقت او اختیار بلا له ورکړی. ۱۴ هغوئ به د ګډُوری سره
جنګ وکړی خو ګډُورے به په هغوئ کامیاب شی ځکه چې
هغه د مالِکانو مالِک او د بادشاهانو بادشاه دے، او هغوئ هم
چې بللے شوی دی، غوره شوی دی او وفادار دی ورسره
ملګری دی.“ ۱۵ بیا فرښتې ما ته ووئیل چې، ”تا چې کوم

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سمندر ولیدو چې لویه کنجره پرې ناسته ده، دا د خلقو
اُمتونه، قومونه او ژبې دی. ۱۶ هغه لس ښکرونه چې تا
ولیدل، هغه به سره د بلا د دې کنجرې نه نفرت کوی، هغوئ
به دا برېنډه او برباده کړی او د هغې غوښه به وخوری او په
اور به یې ایرې کړی. ۱۷ ځکه چې خُدائ پاک د خپل
مقصد د پوره کولو دپاره د دوئ په زړُونو کښې دا خبره
اچولې ده چې دوئ په یو زړهٔ سره بلا ته د خپلې بادشاهۍ
اختیار ورکړی، ترڅو چې د خُدائ پاک کلام د دوئ په حقله
پوره شی. ۱۸ دا ښځه چې تا ولیده هغه لوئ ښار دے چې د
دُنیا په بادشاهانو حکومت کوی.“

## د بابل بربادی

۱۸ ۱ د دې نه پس ما یوه بله فرښته د آسمان نه په
راکوزېدو ولیدله او د هغې لوئ اختیار وو او زمکه د هغې په
جلال رڼا شوه. ۲ بیا هغې په اوچت آواز چغه کړه،
”پرېوتو، لوئ بابل پرېوتو. هغه د پیریانو کور، د ټولو ناپاکو
روحونو اډه، او د مردارو مارغانو او د مردارو او حرامو
ځناورو کور دے. ۳ ځکه چې ټولو قومونو د هغې د مستۍ
او بدکارۍ شراب څښلی دی، د دُنیا بادشاهانو د هغې سره
بدکاری کړې ده، او د دُنیا سوداګرانو د هغې د عیاشۍ په
سبب دولت راغونډ کړو.“ ۴ بیا ما د آسمان نه یو بل آواز
واورېدو چې وئیل یې، ”اے زما خلقو، د دې نه رابهر شئ
چې د دې په ګناهونو کښې شریک نهٔ شئ او چې د هغې په
افتونو کښې شامل نهٔ شئ. ۵ ځکه چې د هغې ګناهونه تر

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

آسمانه رسېدلی دی او خُدائ پاک د هغې بد کارونه هېر کړی
نهٔ دی. ۶ هغې ته د خپلو کړو بدله ورکړئ، هغې چې کوم
ناروا کارونه کړی دی، هغه دوه چنده ورکړئ، او هغې چې په
کومې پیالۍ کښې شراب ګډ کړی دی هغه دوه چنده ګډه
کړئ. ۷ هغې چې هر څومره لوئی او عیاشی وکړه هم هغه
هومره ورته عذاب او وير ورکړئ. هغه په زړهٔ کښې دا وائی
چې زهٔ د تخت مَلِکه يم، زهٔ به چرې هم د کونډو په شان
ویرونه نهٔ کوم. ۸ نو په دې وجه به په هغې په یوه ورځ
دومره افتونه راشی، يعنې مرګ، ویره او قحط. او په اور به
هم وسوزولے شی ځکه چې مالِک خُدائ پاک زورَور دے
چې د دې فېصله يې واوروله. ۹ د زمکې بادشاهانو چې د
هغې سره بدکاری وکړه او د هغې په عیاشۍ کښې شامل
شول، هر کله چې هغوئ د دې د سوزېدلو لوګے ووینی نو
هغوئ به پرې ژړا او وير وکړی. ۱۰ هغوئ به لرې ولاړ وی
او د هغې په عذاب به د يرې دا وائی چې، ”افسوس، افسوس
په لوئ ښار د بابل، په زورَور ښار، چې تهٔ په یوه ګینټه کښې
برباد شوې.“ ۱۱ د دُنیا سوداګران به هم په بابل وير او ژړا
کوی ځکه چې بیا به هیڅوک هم د هغوئ نوره سودا وانهٔ
خلی. ۱۲ د سرو زرو، د سپینو زرو، قیمتی کاڼو، د ملغلرو،
د کتان نرمې کپړې، کاسنی کپړې، د ریښمو او سرې کپړې،
د هر قسم د عُودو لرګی، د هاتی غاښونه، د هر قسمه قیمتی
لرګو د زېړو، د اوسپنو او د مرمرو څیزونه. ۱۳ او ورسره د
دارچینی، مصالحې، خوشبويۍ عطر، د مُر چیړ، لوبان، مے،
تېل، خاص مېده، غنم، او څاروی، ګډې، آسونه، جنګی
ګاډی، غلامان او جنګی قیدیان. ۱۴ هغوئ به وائی چې،
”کوم ښهٔ څیزونو ته چې ستا خواهش وو، هغه ستا د لاس نه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وتلې دی، ستا ټول مال دولت او شان و شوکت ورک دے او
بیا به دا چرې هم په لاس در نۀ شی." ۱۵ او هغه سوداګرانو
چې د دې ښار په تجارت مالداره شوی وُو هغوئ هم به د
هغې د عذاب د یرې نه لرې ولاړ وی، ژړا او ویر به پرې
کوی. ۱۶ او داسې به وائی چې، "افسوس، افسوس، په دې
لوئ ښار چې د کتان او کاسنی جامې به یې اغوستې وې او
په سرو زرو او قیمتی کاڼو او ملغلرو به یې خپل ځان سنګار
کړے وی. ۱۷ افسوس چې په یوه ګینټه کښې د دې ټوله
دبدبه برباده شی." بیا ټول د سمندری جهازونو کپتانان،
سمندری مسافران او ماڼکیان او هغه څوک چې په سمندری
تجارت خپله ګزاره کوی، به لرې ودرېږی. ۱۸ او کله چې د
هغې د سوزېدلو لوګی ووینی نو چغې به کړی، "د دې لوئ
ښار په شان بل داسې ښار چرته دے؟" ۱۹ او هغوئ به په
خپلو سرونو خاورې واچوی، ویر او ژړا به پرې کوی او
داسې به وائی چې، "افسوس، افسوس، په هغه لوئ ښار چې
د چا په تجارت د سمندری جهازُونو مالِکان مالداره شول،
کوم چې په یوه ګینټه کښې تباه او برباد شُو." ۲۰ د هغې د
اَنجام په لیدو اے آسمانه خوشحالی وکړه، اے مقدسینو،
رسولانو او نبیانو، په هغې خوشحالئ وکړئ، ځکه چې خُدائ
پاک ستاسو د انتقام اخستو په وجه په هغې د عدالت فېصله
وکړه." ۲۱ او بیا یوې قوتناکې فرښتې د ژرندې د یو غټ پل
په شان کاڼے راواخستو او سمندر ته یې ورګزار کړو او وې
وئیل چې، "دغه شان به د بابل لوئ ښار ونړولے شی او بیا
به یې هیڅوک ونۀ وینی. ۲۲ او بیا به هیچرې په تا کښې د
ستار، سندرغاړو، شپیلۍ او د بیګل آوازونه وانۀ ورېدے شی،
او د یو کسب، کسبګر به هم په تا کښې ونۀ لیدے شی، او بیا

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

به په تا کښې د ژرندې غرار وانۀ ورېدے شی. ٢٣ او نور به
په تا کښې ډيوه بله نۀ شی او په تا کښې به بيا د زلمی او د
ناوې خبرې وانۀ ورېدے شی. يو وخت وو چې ستا تاجران
د دُنيا زورَور خلق وُو او تا په خپل جادو ټول قومونه دوکه
کړی وُو. ٢٤ ستا په کوڅو کښې د هغه نبيانو او مقدسينو او
د هغه خلقو بهېدلې وينه وليدلے شوه چې په ټوله دُنيا کښې
وژلے شوی وُو.“

١٩ ١ د دې نه پس ما په آسمان کښې د ګڼو خلقو
اوچت آوازونه واورېدل، هغوئ چغې وهلې چې، ”ثنا صِفت
دې وی مالِک خُدائ ته، خلاصون، لوئی او طاقت زمونږ د
خُدائ پاک دے. ٢ ځکه چې د هغۀ فېصلې رښتينې او په
حقه دی او هغۀ د لوئې کنجرې د سزا فېصله وکړه چا چې په
خپلې حرامکارئ دا دُنيا ګنده وهه کړه او د هغې نه يې د خپلو
خادِمانو د وينې بدل واخستو.“ ٣ هغوئ بيا چغې کړې
چې، ”ثنا صِفت دې وی د مالِک خُدائ، د بابل لوګے تل تر
تله خېژی.“ ٤ او هغه څلېريشت مشران او څلور جاندار
خُدائ پاک ته په سجده شول څوک چې په تخت ناست دے
او هغوئ هم چغې کړې چې، ”آمين، ثنا صِفت دې وی د
مالِک خُدائ.“

## د ګډُوری د وادۀ مېلمستيا

٥ بيا د تخت د طرف نه يو آواز راغلے چې، ”اے زمونږ د
خُدائ پاک ټولو خادِمانو چې د هغۀ نه وېرېږئ، اے لويو او
وړو، د خُدائ پاک ثنا وايئ.“ ٦ بيا ما د ډېرو کسانو داسې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

آواز واورېدو لکه د سيند د اوبو غړمبار او يا لکه د تندر د
ګړزار، او هغوئ چغې وهلې چې، ”ثنا صِفت دې وى د مالِک
خُدائ، مالِک زمونږ قادر مطلق خُدائ پاک بادشاه دے. (۷)
راځئ چې خوشحاله شُو او د خوشحالئ نه چغې کړُو او د
هغهٔ لوئى بيان کړُو ځکه چې د ګډورى د وادهٔ ورځ راغلې ده
او د هغهٔ ناوې ځان سمبال کړے دے، (۸) او ورته د کتان
نرمې جامې ورکړے شوې دى چې صفا ځلېدونکې دى.“ او
دا نرم کتان د مقدسينو ښهٔ کارونه دى. (۹) بيا فرښتې ما ته
ووئيل چې، ”دا وليکه چې، بختور دى هغه خلق چې د ګډُورى
د وادهٔ مېلمستيا ته رابللے شوى دى.“ او نور يې ووئيل چې،
”دا د خُدائ پاک برحق کلام دے.“ (۱۰) نو بيا زهٔ په دې د
هغهٔ په پښو کښې په سجده پرېوتلم خو ما ته يې ووئيل چې،
”نه، داسې مهٔ کوه. زهٔ هم ستا او ستا د ورونړو په شان يو
خادِم يم چې د عيسىٰ ګواهى ورکوى. او صرف خُدائ پاک
ته سجده کوه. کوم حقيقت چې د عيسىٰ په وسيله مونږ ته
څرګند شو هم هغه نبيانو ته د پېشګويو الهام ورکوى.“

## د سپين آس سوارهٔ

(۱۱) بيا ما آسمان پرانستے وليدو او هلته زما په وړاندې يو
سپين آس وو او د هغهٔ د سوارهٔ نوم وفادار او رښتينے دے،
ځکه چې هغه په عدالت کښې او په جنګ کښې په حقه دے.
(۱۲) او د هغهٔ سترګې د اور د شغلو په شان دى او په سر يې
ډېر تاجونه دى. په هغې يو نوم ليکلے شوے دے چې بې له
دهٔ نه پرې نور هيڅوک نهٔ پوهېږى. (۱۳) او هغهٔ په وينو لړلې
جامې اغوستې وې او د هغهٔ نوم د خُدائ پاک کلام دے. (۱۴)

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او آسمانی لښکرې په سپينو آسونو سورې ورپسې وې چې د
سپين او صفا نرم کتان جامې يې اغوستې وې. ۱۵ او د هغهٔ
د خولې نه يوه تيره تُوره راوځی چې قومونه پرې ووهی، ځکه
چې هغه به په هغوئ زوروَر حکومت کوی او د ګناهونو د
انګورو لنګرۍ به د قادر مطلق خُدائ پاک د قهر او غضب د
پښو لاندې نچوړ کړی. ۱۶ او د هغهٔ په چُوغه او په پتُون دا
نوم ليکلے دے چې، ”د بادشاهانو بادشاه او د مالِکانو
مالِک.“ ۱۷ بيا ما يوه فرښته په نمر کښې ولاړه وليده او
هغې بره په آسمان کښې الوتونکو مارغانو ته چغې کړې چې،
”راشئ او د خُدائ پاک په لويه مېلمستيا کښې راجمع شئ.
۱۸ چې د بادشاهانو او د کمانډرانو او د تکړه سپاهيانو
غوښې، د آسونو او د هغوئ د سورو غوښې او د ټولو خلقو،
غلامانو او آزادو د لويو او د وړو غوښې وخورئ.“

۱۹ بيا ما وليدل چې بلا او د دُنيا بادشاهان او د هغوئ
لښکرې د سوارهٔ او د هغهٔ د لښکر سره په جنګ شول. ۲۰
او هغه بلا ګرفتار کړے شوه او دغسې هغه دروغژن نبی هم
چې يې د هغې دپاره معجزې ښکاره کولې او هغه څوک يې
دوکه کول په چا چې د بلا نښه وه او د هغهٔ بُت ته يې سجده
کړې وه. دغه دواړه ژوندی هغه درياب ته وغورزولے شول
چې د ګوګړو شُغلې ترېنه ختلې. ۲۱ او باقی په هغه تُوره
ووژلے شول چې په سپين آس د سوارهٔ له خولې نه راوتله،
او ټولو مارغانو د هغوئ په غوښه ځانونه ماړهٔ کړل.

## زر کاله بادشاهی

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٢٠ ١ بیا ما یوه فرښته له آسمان نه په راکوزېدو ولیدله
چې ورسره د عالِمِ ارواح کُنجی او په لاس کښې یې لوئ
زنځیر وو. ٢ او هغه اژدها چې زوړ ښامار دے، هغه یې
ونیوو، اِبلیس یعنې شېطان، او تر زرو کالو پورې یې وتړلو.
٣ فرښتې هغه عالِمِ ارواح ته وغورزولو، بند یې کړو او مهر
یې پرې ولګولو، د دې دپاره چې هغه بیا تر هغې قومونه دوکه
نۀ کړی ترڅو چې زر کاله پوره شوی نۀ وی. د هغې نه پس به
هغه بیا د لږ وخت دپاره آزاد کړے شی. ٤ بیا ما یو څو
تختونه ولیدل او هغه خلق پرې ناست وُو چا ته چې د عدالت
اختیار ورکړے شوے وو. ما د هغه خلقو روحونه ولیدل چې
سرونه یې د خُدائ پاک د کلام او د عیسیٰ د شهادت په وجه
پرې کړے شوی وُو، او هغه خلق چا چې بلا یا د هغۀ بُت ته
سجده نۀ وه کړې او نۀ یې په لاس یا تندی د هغۀ نښه لګولې
وه. هغوئ بیا راژوندی شول او د مسیح سره یې تر زرو کالو
بادشاهی وکړه. ٥ باقی مړی تر هغې ژوندی نۀ کړے شول
ترڅو چې زر کاله پوره شوی نۀ وُو. دا اولنے قیامت دے.
٦ بختور او قُدوس هغه دے چې په دې اولنی قیامت کښې
شریک دے. ځکه چې په داسې خلقو د دوېم مرګ اختیار نۀ
وی بلکې هغوئ به د خُدائ پاک او د مسیح اِمامان وی او د
هغۀ سره به تر زرو کالو پورې بادشاهی کوی.

## د شېطان شکست

٧ هر کله چې زر کاله پوره شی نو شېطان به د قید خانې
نه را آزاد شی. ٨ او هغه به راشی او په څلور ګوټه دُنیا
کښې به قومونه دوکه کړی، یعنې جوج او ماجوج، او جنګ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ته به يې راجمع کړی چې د سمندر د شګو په شان بې‌شمېره
دی. ۹ نو هغوئ په ټوله دُنيا راخوارهٔ شول او د خُدائ پاک
د مقدسينو ډېره او د هغهٔ محبوب ښار يې راګېر کړو، خو د
آسمان نه اور پرې نازل شو او هغوئ يې تباه کړل. ۱۰ او بيا
هغوئ له دوکه ورکوونکے اِبليس د اور او ګوګړو درياب ته
وغورزولے شو چرته چې بلا او دروغژن نبی هم
ورغورزولے شوے دے او هلته به په شپه او ورځ تل تر تله
عذابولے شی.

## آخری عدالت

۱۱ بيا ما يو لوئ سپين تخت وليدو چې يو کس چې پرې
ناست وو، د هغهٔ د حضور نه زمکه او آسمان وتښتېدل او
غيب شول. ۱۲ بيا ما لوئ او وارهٔ مړی د تخت د وړاندې
ولاړ وليدل او کتابونه پرانستلے شول. بيا بل کِتاب پرانستلے
شو، يعنې د ژوندون کِتاب. او د مړو عدالت د هغوئ د
اعمالو په مطابق وشو څنګه چې په هغه کتابونو کښې درج
وو. ۱۳ سمندر خپل مړی چې په کښې وُو، ورکړل بيا مرګ
او عالمِ ارواح خپل مړی ورکړل چې په کښې وُو او د ټولو
عدالت د هر چا د خپل عمل په مطابق وشو. ۱۴ بيا مرګ او
عالمِ ارواح د اور درياب ته وغورزولے شول، د اور درياب
دويم مرګ دے. ۱۵ خو د چا نومونه چې د ژوندون په
کِتاب کښې درج نهٔ وُو هغوئ د اور په درياب کښې
وغورزولے شول.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## نوے آسمان او نوې دُنیا

٢١ ١ بیا ما یو نوے آسمان او یوه نوې دُنیا ولیدله ځکه
چې اول آسمان او اوله دُنیا غیب شوی وُو او سمندر هم نهٔ
وو. ٢ ما پاک ښار، یعنې نوے یروشلم ولیدلو چې د
خُدائ پاک د طرفه د آسمان نه راکوزېدو، او دا داسې تیار
کړے شوے وو لکه چې ناوې د خپل خاوند دپاره سنګار
شوې وی. ٣ ما د تخت نه یو اوچت آواز واورېدو چې دا
یې فرمائیل چې، ”ګورئ، اوس به د خُدائ پاک حضور د بنی
آدمو په مینځ کښې وی او هغوئ به د هغهٔ اُمت وی او خُدائ
پاک به په خپله د هغوئ سره وی. ٤ هغه به د هغوئ د
سترګو ټولې اوښکې وچې کړی، هلته به نور نهٔ مرګ، نهٔ ویر،
نهٔ ژړا او نهٔ درد وی ځکه چې وړومبی څیزونه تېر شوی
دی.“ ٥ او هغه څوک چې په تخت ناست وو هغهٔ وفرمائیل
چې، ”وګورئ، زهٔ ټول څیزونه نوی کوم.“ بیا هغهٔ ما ته
وفرمائیل چې، ”زما دا کلام ولیکه ځکه چې زما خبرې د
اِعتبار لائقې او رښتیا دی.“ ٦ بیا یې ما ته وفرمائیل چې،
”وشوه. الفه او اومیګه، اول او آخر زهٔ یم. هر څوک چې
تږے وی زهٔ به هغوئ ته د ژوندون د اوبو د چینو نه وړیا
اوبهٔ ورکړم. ٧ څوک چې کامیاب شی هغه به د دې وارث
شی، او زهٔ به د هغوئ خُدائ پاک یم او هغوئ به زما بچی
وی. ٨ خو د ویرېدونکو، بې‌ایمانانو، پلیتانو، قاتلانو،
حرامکارانو، جادوګرانو، بُت پرستانو او هر قسم دروغژن
خلق به په هغه دریاب کښې وی چې په کښې د ګوګړو اور
بلیږی، او دا دویم مرګ دے.“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# نوے یروشلم

٩ بیا په هغه اوو فرښتو کښې چې د اووهٔ آخرى افتونو ډک
جامونه ورسره وُو، یوه ما ته راغله او وې وئیل چې، "راځه،
زهٔ به تا ته ناوې وښایم چې د ګډُورى ښځه ده." ١٠ نو روحُ
القُدس په ما غلبه وکړه او زهٔ یې یو لوئ اوچت غر ته بوتلم
او د یروشلم پاک ښار یې راته وښائیلو چې د خُدائ پاک د
طرفه راکوزېدو. ١١ هغه د خُدائ پاک په جلال روښانه وو،
د هغې رڼا د قیمتى جواهراتو په شان لکه د جاسپر او د بلور
کاڼى په شان صفا وو. ١٢ د هغې لوئ اوچت دېوال وو چې
په کښې دولس دروازې وې او په هره دروازه کښې فرښته
ولاړه وه، او په دروازو د بنى اِسرائیلو د دولسو قبیلو نومونه
لیکلے شوى وُو. ١٣ نمرخاتهٔ ته درې دروازې وې، شمال ته
درې، جنوب ته درې، او نمر پرېواتهٔ ته درې دروازې وې.
١٤ د ښار د دېوال دولس بنیادونه وُو او په هغې د ګډُورى د
دولسو رسولانو نومونه وُو. ١٥ کومې فرښتې چې ما سره
خبرې وکړلې، د هغې سره د سرو زرو یو ګز وو چې پرې د
ښار دیوالونه او دروازې ناپ کړى. ١٦ او ښار په څلور
ګوټه شکل جوړ وو او څومره چې اوږد وو هغه هومره پلن
وو، او هغې د ښار ناپ په ګز وکړو او د دې اوږدوالے،
پلنوالے او اوچتوالے برابر وُو چې دوه نیم زره کیلومیټره
وُو. ١٧ فرښتې د دیوال ناپ په دُنیاوى پیمانه وکړو چې
شپېتهٔ میټره اوچت وو، او فرښتې هم دا پیمانه استعمالوله.
١٨ دېوال د جاسپر کاڼو نه جوړ وو او ښار په خپله د
سوچه سرو زرو نه جوړ شوے وو او د صفا شیشې په شان
پړقېدو. ١٩ د ښار د دیوالونو بنیادونه په رنګا رنګ قیمتى

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کاڼو ښائسته کړے شوی وُو اول بنیاد د جاسپر کاڼو وو،
دویم د نیلم، دریم د شب چراغ، څلورم د زمرد، ۲۰ پینځم د
اونیکس، شپږم د یمنی عقیقو، اوۀم د ګراسولر، اتم د
ایکوامرین، نهم د طوپاز، لسم د کلسائټو، یوولسم د کائنائټو،
او دولسم د کټېلي وو. ۲۱ او هغه دولس دروازې د دولسو
ملغلرو وې، هره دروازه د یوې ملغلرې نه جوړه وه. د ښار
لوئې کوڅې د صفا شیشې په شان د سوچه سرو زرو وې.
۲۲ ما په ښار کښې د خُدائ کور ونۀ لیدو ځکه چې مالِک
قادر مطلق خُدائ پاک او ګډُورے په خپله د دې ښار د
خُدائ پاک کور دے. ۲۳ او ښار ته د نمر یا د سپوږمۍ د
رڼا حاجت نشته ځکه چې د خُدائ پاک جلال دا روښانه
کوی او ګډورے د دې ډیوه ده. ۲۴ د دې په رڼا به قومونه
ګرځی او دۀ ته به د دُنیا بادشاهان خپلې لویئ راوړی. ۲۵ د
ښار دروازې به ټوله ورځ کښې نۀ بندیږی او هلته به شپه
چرې نۀ وی. ۲۶ د قومونو شان او شوکت به دۀ ته راوړے
شی. ۲۷ خو هیڅ ناپاکه څیز به دې ته ورننوتے نۀ شی او نۀ
پلیت او نۀ دروغژن، خو صرف هغوئ د چا نومونه چې د
ګډُوری د ژوندون په کِتاب کښې لیکلی دی.

## ۲۲

۱ بیا فرښتې ما ته د ژوند د اوبو دریاب وښودلو
چې د بلور په شان پړقېدو چې د خُدائ پاک او د ګډُوری د
تخت نه ۲ د ښار د لوئ سړک په مینځ کښې رابهېدلو. د
دریاب په دواړو غاړو د ژوندون ونه وه چې دولس قسمه
مېوه یې نیوله او هره میاشت به یې مېوه نیوله. او د ونې پاڼې
د قومونو د شفا ورکولو دپاره دی. ۳ او په هغه ښار کښې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

به داسې هيڅ څيز مونډلے نۀ شی چې ناروا وی. او د خُدائ
پاک او د ګډوری تخت به په هغه ښار کښې وی او د هغۀ
خادِمان به د هغۀ عبادت کوی. ۴ هغوئ به د هغۀ مخ وينی
او د هغۀ نوم به د هغوئ په تندو ليکلے وی. ۵ هلته به شپه
نۀ وی او نۀ به هغوئ ته د ډيوې يا د نمر د رڼا ضرورت وی
ځکه چې مالِک خُدائ پاک به د هغوئ رڼا وی، او هغوئ به
هلته تل تر تله بادشاهی کوی.

## د حضرت عيسیٰ راتلل

۶ بيا فرښتې ما ته ووئيل چې، ”دا خبرې د اِعتبار لائقې او
رښتيا دی. مالِک خُدائ پاک چې خپلو نبيانو ته د نبوت الهام
ورکوی، هغۀ خپله فرښته راوليږله چې خپلو خادِمانو ته هغه
څۀ وښائی چې زر کېدونکی دی.“ ۷ مالِک عيسیٰ فرمائی
چې، ”ما ته غوږ ونيسئ زۀ زر درځم. بختور دی هغوئ څوک
چې د دې کِتاب پېشګوئې منی.“ ۸ او زۀ يوحنا هغه څوک
يم چې دا رويا مې واورېدله او وليدله. نو زۀ د هغې فرښتې په
پښو کښې په سجده پرېوتلم چا چې ما ته دا هر څۀ ښکاره
کړل. ۹ خو هغې ما ته ووئيل، ”داسې مۀ کوه، زۀ خو ستا
او ستا د ورونړو نبيانو او د دې کِتاب د کلام منونکو، په شان
يو خادِم يم. صرف خُدائ پاک ته سجده کوه.“ ۱۰ بيا هغې
ما ته ووئيل چې، ”د دې کِتاب پېشګوئې مۀ پټوه ځکه چې د
هغې د پوره کېدو وخت رانزدې دے. ۱۱ څوک چې بدکاران
دی، پرېږده چې بدکارونه کوی، څوک چې پليت دی، پرېږدئ
چې په خپله پليتئ کښې آخته وی. څوک چې صادقان دی
هغه دې په خپل صداقت کښې پاتې شی او څوک چې پاک

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وی هغوئ دې پاک پاتې شی.“ ١٢ ”ما ته غوږ ونيسئ. زهٔ
عيسىٰ زر درځم او ستاسو اجر د خپل ځان سره دروړم چې
هر يو ته به زهٔ د هغوئ د عمل په مطابق ورکړم. ١٣ الفه او
اوميګه زهٔ يم، اول او آخر زهٔ يم، ازل او خاتمه زهٔ يم. ١۴
بختور دی هغه خلق چې خپلې چُوغې يې صفا وينځلی دی،
نو هم هغوئ به د ژوندون د ونې حق ومومی او ښار ته به په
دروازو ورننوځی. ١۵ خو بهر هغه سپی دی کوم چې
جادوګران، حرامکاران، قاتلان او بُت پرستان او د هغوئ
ټولو د ژوند هر يو پل په دروغو روان دے. ١۶ ما عيسىٰ،
خپله فرښته تاسو ته درولېږله چې جماعتونو ته دا ګواهی
ورکړی چې زهٔ د داؤد د خانګې او نسل نه يم او د سبا
ځلېدونکے ستورے يم.“ ١٧ روحُ القُدس او ناوې وائی چې،
”راشه.“ او هر اورېدونکے دې هم وائی چې، ”راشه.“ او
څوک چې تږے وی، هغه دې راشی، او څوک چې يې
غواړی، د ژوندون د اوبو نه دې وړيا واخلی. ١٨ زهٔ هر چا
ته دا خبردارے ورکوم څوک د دې کِتاب د پېشګويو کلام
اوری، کهٔ څوک د ځانه څهٔ په کښې زيات کړی نو خُدائ
پاک به هغهٔ ته په دې کِتاب کښې بيان شوی افتونه ورکړی.
١٩ او کهٔ څوک د پېشګويو د دې کِتاب نه څهٔ خبرې اخوا
کړی نو خُدائ پاک به د هغهٔ د ژوندون د ونې نه او د مقدس
ښار نه د هغهٔ حِصه ختمه کړی کومه چې په دې کِتاب کښې
بيان شوې ده. ٢٠ څوک چې د دې خبرو ګواهی ورکوی
هغه وائی چې، ”آو، زهٔ زر درځم.“ آمين، مالِک عيسىٰ، راشه.
٢١ د مالِک عيسىٰ فضل دې په تاسو ټولو وی، آمين.


pashtobibles.org © يوسفزی ٢٠١٩
Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.